Teacher's Guide for Pashto Lower Grade (KG/Kachi Level)

# د استاذ رهنما

د

# پښتو قاعدې

د پاره

اين - ډبليو - ايف - پي ټيکسټ بک بورډ
پېښور

# د استاذ رهنما

د

# پښتو قاعدې

د پاره

این - ډبلیو - ایف - پي ټیکسټ بُک بورډ
پېښور

## د استاذ رهنما

## د

## پښتو قاعدې

## دپاره

دا رهنما دَ مخصوصو ضلعو د ټولو پرائمری سکولونو دپاره د تجرباتی نصابی قاعدې په طور د

- ائی - ایم - ډی - سی پرائمری نظامت تعلیم،
- این - ډبلیو - ایف - پی ټیکسټ بُک بورډ او
- پاک - جرمن پرائمری ایجوکیشن ضلع چارسده پراجیکټ

په مشترکه تعاون تیار کړے شوے دے۔


**مصنفین:**
سید احمد مومند، داور خان داؤد، فرمان اللّٰه، نیاز محمد عاجز، محمد عالم، سید مکمل شاه، نگهت یاسمین



**کمپوزینگ:** سید شریف «وړدک»

**زیر نگرانی:**
محمد جمشید خان تنولی، ډاکټر ممتاز منگلوری، ډاکټر روډیگر بلومر


## دګرمو علاقو د پاره د پښتو قاعدې د تدریس منصوبه

| د تعلیمي کال مرحلې | | د مرحلو تفصیل | د درسي کتاب صفحې | د رهنما صفحې | د درسي خاکو شمیر په دې میاشت کښې | د درسي خاکو مسلسل شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مرحله I | 2 مئی - 15 جون | مئی 2 - مئی 31 | 3 - 4 (قاعده)<br>1 - 6 (رهنما) | 1 - 9 | 10 | 10 |
| | | جون 1 - جون 14 | 5 - 7 | 10 - 14 | 5 | 15 |
| مرحله II | 25 اګست - 23 دسمبر | اګسټ 25 - ستمبر 30 | 7 - 14 | 15 - 28 | 14 | 29 |
| | | اکتوبر | 14 - 22 | 29 - 46 | 18 | 47 |
| | | نومبر | 23 - 31 | 47 - 64 | 18 | 65 |
| | | دسمبر 1 - دسمبر 23 | 32 - 39 | 65 - 80 | 15 | 81 |
| مرحله III | 1 جنوری - 10 اپریل | جنوری | 39 - 46 | 81 - 94 | 14 | 95 |
| | | فروری | 47 - 53 | 95 - 107 | 13 | 108 |
| | | مارچ | 54 - 63/64 | 108 - 120 | 14 | 121 |
| | | اپریل 1 - اپریل 10 | اعاده | | | |

# فهرست مضامين


| شمېره | عنوان | صفحې | شمېره | عنوان | صفحې | شمېره | عنوان | صفحې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | پېژندګلو | III-I | 26 | و | 38-37 | 51 | جائزه V | 80 |
| 2 | قصب | 2-1 | 27 | ت | 40-39 | 52 | ي | 81 |
| 3 | لوبې | 4-3 | 28 | جائزه II | 41 | 53 | ی | 82 |
| 4 | نظم | 5 | 29 | ټ | 43-42 | 54 | ئ | 83 |
| 5 | اړونه | 6 | 30 | ن | 45-44 | 55 | جائزه VI | 84 |
| 6 | د سترګې مشې طریقې | 7 | 31 | س | 47-46 | 56 | څ | 86-85 |
| 7 | باران وریږي | 8 | 32 | ش | 49-48 | 57 | ځ | 88-87 |
| 8 | نېغه لار | 9 | 33 | پ | 51-50 | 58 | ق | 90-89 |
| 9 | جومات | 10 | 34 | ګ | 53-52 | 59 | ف | 92-91 |
| 10 | لرونه | 11 | 35 | جائزه III | 54 | 60 | ژ | 94-93 |
| 11 | کشتۍ | 12 | 36 | ـَـ | 55 | 61 | ط | 96-95 |
| 12 | د شاتو مچۍ ګل له ځي | 13 | 37 | ـِـ | 56 | 62 | جائزه VII | 97 |
| 13 | ا | 15-14 | 38 | ـُـ | 58-57 | 63 | ص | 99-98 |
| 14 | م | 17-16 | 39 | ـٔـ | 59 | 64 | ض | 101-100 |
| 15 | ب | 19-18 | 40 | ـٔـ | 60 | 65 | ع | 103-102 |
| 16 | ر | 21-20 | 41 | ز | 62-61 | 66 | ح | 105-104 |
| 17 | ل | 23-22 | 42 | چ | 64-63 | 67 | ذ | 107-106 |
| 18 | د | 25-24 | 43 | خ | 66-65 | 68 | ظ | 109-108 |
| 19 | جائزه I | 26 | 44 | ک | 68-67 | 69 | ث | 111-110 |
| 20 | ی | 29-27 | 45 | جائزه IV | 69 | 70 | جائزه VIII | 112 |
| 21 | ے | 31-30 | 46 | ړ | 71-70 | 71 | جائزه VIII | 113 |
| 22 | هـ | 32 | 47 | غ | 73-72 | 72 | حروف جار | 114 |
| 23 | ه | 33 | 48 | ڼ | 75-74 | 73 | هر کار په خپل وخت کوئ! | 116-115 |
| 24 | ـه | 34 | 49 | ښ | 77-76 | 74 | د الفبې چارټ | 118-117 |
| 25 | ج | 36-35 | 50 | ډ | 79-78 | 75 | د الفبې نظم | 120-119 |


## د ګرمو علاقو د پاره د پښتو قاعدې د تدریس تفصیلي منصوبه

| مرحلې | د مرحلو تفصیل | درسی خاکې | د رهنما صفحې | د درسی کتاب صفحې | د سبقونو تفصیل |
|---|---|---|---|---|---|
| مرحله I | مئ 2 – مئ 31 | 1 – 10 | 1 – 9 | 3 – 4<br>1 – 6 | د لیک لوست نه مخکښې مرحلې د پاره سبقونه / مشغلې |
| | جون 1 – جون 14 | 11 – 15 | 10 – 14 | 5 – 7 | د لیک لوست نه مخکښې مرحلې د پاره څلور سبقونه او د حرف الف پېژندګلو د ام د تصویر په ذریعه (داِلف پروبے سبق) |
| مرحله II | اګست 25 – ستمبر 30 | 16 – 29 | 15 – 28 | 7 – 14 | د حرف الف دوېم سبق – د تصویرونو مچ – برش – رحېل – لرم – دروازه – یوې – درزی په ذریعه د حرفونو م – ب – ر – ل – د – ی پېژندګلو – د جائزې سره. |
| | اکتوبر | 30 – 47 | 29 – 46 | 14 – 22 | د تصویرونو مېزے – هلک – اره – بطه – جنډه – ونه – تله – ټلی – نمر په ذریعه د حرفونو ے – ه – ہ/ه – ج – و – ت – ټ – ن پېژندګلو – د جائزې سره – |
| | نومبر | 48 – 65 | 47 – 64 | 23 – 31 | د تصویرونو سپے – شکور – پکے – ګډه – بَس/وَر – پِن/نِب – کل – ګډه – چاره – زمرے په ذریعه د حرفونو س – ش – ب – ګ – ـَـ – ـِـ – ـُـ – ـٔـ او ز پېژندګلو د جائزې سره. |
| | د سمبر 23 | 66 – 81 | 65 – 80 | 32 – 39 | د تصویرونو چرګ – خر – کټ – رنده – غوا – ږمنځ او ښکر په ذریعه د حرفونو چ – خ – ک – ړ – غ – ڼ او ښ پېژندګلو. د جائزې سره. |
| مرحله III | جنوری | 82 – 95 | 81 – 94 | 39 – 46 | د تصویرونو ډبے – مرې – ټوپۍ – چپ شئ – څټک – ځنګل – قلم په ذریعه د حرفونو ډ – ي – ی – ئ – څ – ځ – ق پېژندګلو. د جائزو سره. |
| | فروری | 96 – 108 | 95 – 107 | 47 – 53 | د تصویرونو فواره – ژبه – طوطی – صندوق – ضعیف – عینک په ذریعه د حرفونو ف – ژ – ط – ص – ض – ع – پېژندګلو. د جائزې سره. |
| | مارچ | 109 – 121 | 108 120 | 54 64/63 | د تصویرونو حلوائی – ذخیره – ظروف – ثمر په ذریعه د حرفونو ح – ذ – ظ – ث پېژندګلو د جائزو سره – هر کار په خپل وخت کوئ د مشق سره. د الفبې چارټ – نظم او دُعا. |
| | اپرېل 10 | | | | اعـــادہ |

# پېژند ګلو

د پښتو دا نوې قاعده د صوتی طريقې مطابق، د قومی نصابی کمېټۍ د سفارشونو په رڼرا کښې ليکلے شوې ده.
دلته مونږ د قاعدې او استاذ رهنما په جوړښت او تعليمی خصوصياتو يو څو خبرې کوو. استاذ دې دا په غور ولولی او د قاعدې په تدريس کښې دې ترې کار واخلی.

## I . د قاعدې جوړښت

### I.I د ليک لوست نه مخکښې مرحله

په سکول کښې د ژبې د تدريس مقصد صرف د لوستلو او ليکلو زده کول نهٔ دی بلکې د ژبې د مهارتونو لکه اورېدلو ، خبرې کولو ، لوستلو ، ليکلو او نورو مهارتونو ته وده ورکول دی. په دې وجه د قاعدې شروع د داسې مشغلو نه شوې ده چې په ژبه کښې دغه پورتنو مهارتونو ته وده ورکوی او د لوستلو او ليکلو زده کړې ته ماشومان تياروی. دې ته د ليک لوست نه مخکښې مرحله وائی. د دې مرحلې دپاره مونږ په 14 سبقونو کښې داسې مشغلې تجويز کړی دی چې په ماشومانو کښې دغه پورتنو مهارتونو ته وده ورکوی. اووهٔ ړومبنی سبقونه د رهنما په شروع کښې دی چې قصې، لوبې، نظم او اړونه پکښې شامل دی. اووهٔ نور سبقونه د قاعدې د ړومبنو څلورو صفحو دپاره دی. دا ټول به په څوارلس ورځو کښې ښودلے شی. که استاذ ته د خپل کلاس صورت حال اجازت ورکوی نو د دې نه علاوه نورې دغسې مشغلې هم کولے شی او ددې مرحلې وخت زياتولے شی.

### 1-2 د ليک لوست مرحله

دا مرحله د قاعدې دشپږمې صفحې نه شروع کيږی خو د ليک لوست نه مخکښې مشغلې به بيا هم د لوستلو او ليکلو د زده کړې سره جاری وی.
په قاعده کښې د الفبې د حرفونو پېژندګلو په روايتی طريقه سره نهٔ ده شوې بلکې په ژبه کښې د اسان او زيات استعمال ( frequency ) په بنياد شوې ده. د لوستلو او ليکلو زده کړې ته د مقرون نه مجرد او د اسان نه ګران طرف ته ترتيب ورکړے شوے دے. تر ډېره وسه مو د مجردو او ګرانو اصطلاحاتو د



استعمال نه ډډه کړې ده. د پښتو او عربۍ ګرانو او مخصوصو حرفونو پېژندګلو د قاعدې اخره کښې شوې ده.
په قاعده کښې ړومبے د هغه لفظونو تعارف شوے دے چې د علت د حرفونو (ا، و، ه، ی/ ے) سره تړلی دی. بيا مو په لنډو لفظونو کښې د حرکاتو ( َ ِ ُ ۥ ) پېژندګلو کړې ده. دې سره د داسې لفظونو جوړولو ته لاره هواره شوې ده چې دا حرکات پکښې راځی.

### 1-3 صوتی طريقه

په روايتی طريقه کښې ړومبے د حرفونو نومونه زده کولے شی. بيا د دغه حرفونو د نومونو نه هجه يا لفظ جوړولے کيږی. يعنې د حروفو نومونه اخستلے کيږی او د لفظ اواز وئيلے کيږی
په صوتی طريقه کښې ړومبے د حرف اواز زده کولے شی. دغه اواز د معنیٰ لرونکی څيز د نوم د سر يا اخر نه اخستلے کيږی. دا څيز به ماشوم پېژنی. مونږ هم په قاعده کښې د دې اصول مطابق د څيزونو تصويرونه ورکړی دی. د حرفونو د اوازونو د يوځای کولو نه هجې او د هجو د يوځای کولو نه لفظونه جوړولے شی. دا يوه فطری طريقه ده او د لوستلو زده کړه اسانوی.

### 1-4 جائزې

- په قاعده کښې مونږ اتهٔ جائزې ورکړې دی. د دې په ذريعه استاذ ته د شاګردانو د زده کړې يا مشکلاتو معلومات کيږی. د خپل تدريس د کاميابۍ يا نيمګړتيا پته ورته هم لګېدے شی او د دې په رڼرا کښې د خپل تدريس اصلاح کوی. استاذ به هره جائزه کښې د بېل بېل ماشوم ريکارډ ساتې.

## 2. د قاعدې خصوصيات

2-1 - په ژبه کښې مختلفو مهارتونو ته د ودې ورکولو دپاره مونږ قاعده داسې جوړه کړه چې هم درسی کتاب دے او هم ورک بک. د هر حرف د زده کړې دپاره ورکړے شوی مشقونه د تېر سبق اعاده او پخلے کوی.

2-2 - قاعده کښې ماشوم د مشغلو مرکز دے. استاذ پکښې د مددګار او رهنما کردار ادا کوی.
په زده کړه کښې د ماشوم مشغول ساتلو دپاره داسې مشغلې او مشقونه

ورکړے شوی دی چې د ماشوم فطری جذبه او ټول حواس پکښې په کار راوستلے شوی دی.

په ماشوم کښې د خود اعتمادۍ او کامیابۍ احساس پېدا کولو دپاره په قاعده کښې اسانه ژبه استعمال شوې ده چې د ماشوم ذهنی وده په خیال کښې ساتی

## 3. د رهنما جوړښت

دې لاربښود کښې د قاعدې د ښودلو دپاره 121 سبقونه ورکړے شوی دی. د څو صفحو نه بغېر د هرې صفحې دپاره دوه دوه سبقونه دی. ړومبے سبق د حرف د تعارف دپاره دے او دوېم سبق کښې د دغه حرف اعاده او د پخلی مشقونه دی. په کومه ورځ چې کوم سبق ښودلے کیږی هغه په غټو کرښو کښې بند کړے شوے دے. درسی خاکه د عنوان نه شروع کیږی. ورپسې د سبق شمېره راځی. یوه شمېره بریکټ کښې ده چې د سبقونو مسلسل تعداد ښئی او بله د بریکټ نه بهر ده او په عنوان کښې د سبقونو شمېر ښئی. په معاوناتو کښې د اصل څیز او د تصویری کارډ ذکر شوے دے خو استاذ د خپل تدریس د مؤثر کولو دپاره د ورکړے شوو معاوناتو نه علاوه نور معاونات، اصل څیزونه یا د هغوې ماډلې. هم استعمالولے شی. بیا ورپسې تدریسی قدمونه دی. تدریسی قدمونه لنډ لنډ خو جامع دی. استاذ د دې په مدد ښهٔ سبق ورکولے شی. د ټولو حرفونو د تدریس مقصدونه یو تربله مشترک دی. صرف په یو څو سبقونو کښې د تدریس د مقصدونو ذکر شوے دے. د نورو سبقونو دپاره دې لاندې مقصدونه په خیال کښې وساتلے شی:

- د حرف اواز پېژندل
- د حرف اواز ویستل
- د حرف شکل پېژندل
- د حرف لیکل زده کول

استاذان دې دا پېژندګلو په غور ولولی چې د صوتی طریقې په حقله ورته څهٔ معلومات حاصل شی او د هغې مطابق سبق ورکړی.



# قصې

1 قصه: د مرغو ازار مهٔ اخلئ!

سبق 1 (1)

## د قصې کولو طریقه

### اماده کول

- استاذ د قصې کولو اعلان کوی او ماشومان ورته غوږ نیسی.

### قصه کول

- استاذ قصه په مزه مزه او د قصې په انداز کښې کوی.

رشید یو ورکوټے هلک وو. مرغۍ به ئې په لینده ویشتې. په مه مکړه نهٔ وو. یوه ورځ ئې ونه کښې د مرغۍ جاله ولیده. زر زر ئې بېړې ووهلې او ونې ته وختلو چې بچی ترې راکوز کړی. دې وخت کښې په هوا یوه مرغۍ راښکاره شوه بې واره ئې چغار جوړ کړو. رشید د مرغۍ په شور فریاد رحم رانغے . رو ئې جالې ته لاس یوړو. کړس شو چې د پښو لاندې ئې څانګه ماته شوه او لاندې راوغورزېدو. لاس ئې مات شو. څو ورځې ئې هسپتال کښې تېرې کړې او ښهٔ شو. دې نه پس رشید نهٔ مرغۍ ویشتلې او نهٔ به ئې جالو ته ختلو.

- د استاذ نه پس دې یو څو ماشومان هم دغه قصه وکړی.
- استاذ دې قصه یوځل بیا وکړی او لاندې پوښتنې دې وکړی:

O رشید ونې ته ولې ختلو؟
O مرغۍ ولې چغار جوړ کړو؟
O ونه کښې په رشید څهٔ چل وشو؟
O رشید څو ورځې چرته تېرې کړې؟
O دې نه پس رشید څهٔ کول؟

### خپل خپل حال بیانول

- که په ماشومانو کښې په چا دغسې چل شوے وی بیان دې کړی.
- که ماشومانو ته څهٔ نورې قصې یادې وی کلاس کښې دې واوروی.

نوټ:

استاذ دې نورو ورکړے شوو قصو دپاره هم دا طریقه اختیار کړی.

## 2 . قصه: پلوشه ښکول ته ځی

**سبق** 2 (2) د ړومبۍ قصې درسی خاکه وګورئ!

پلوشه یوه وړه جینۍ وه. چې لږه لویه شوه نو پلار ئې ورله د سکول کتابونه او تختۍ واخستل. پلوشه ورته ډېره خوشحاله شوه. چې سحر شو نو مور سکول ته روانه کړه. په لاره ئې ډلې ډلې ماشومان لیدل چې سکول ته روان وو. دا به کله یوې او کله بلې ډلې ته مسکۍ شوه. اخر سکول ته ورسېدل. د هېډ ماسټرې کمرې ته ننوتل. هېډ ماسټرې پلوشه په مینه ځانته رانزدې کړه. بیا ئې نورو ماشومانو سره یوه کمره کښې کښېنوله. وړومبې مور پسې لږه خفه وه، خو چې د خپل محلت ملګرې ئې کمره کښې ولیدلې نو زړهٔ ئې ښهٔ شو. هغوی ئې خواله راغلې. پلوشه ورسره په خبرو شوه او مور ئې هېره شوه. لږې ورځې پس پلوشې نورې ملګرې هم ځانله پېدا کړې. سکول ته به ورسره یوځای تله او راتله. سبق به ئې ورسره وئېلو. د لوبو وخت کښې به ئې لوبې هم ورسره کولې.

## 3 . قصه: زما کور

**سبق** 3 (3) د ړومبۍ قصې درسی خاکه وګورئ!

نصیر خپل ملګری عابد ته قصه کوی چې زمونږ کور ډېر ښکلے دے. ورسره خوا کښې د هلکانو سکول دے. بل اړخ ته ئې یو ښکلے جومات دے . مونږ خوېندې ورونړه او مور پلار کور کښې په خوشحالۍ اوسو. د کور کار کښې یو بل سره لاس کوو. پلار مې په یو نزدې سکول کښې استاذ دے. زهٔ هم دې سکول کښې سبق وایم. مشر ورور مې زمیدار دے. غوا، مېښه او چېلۍ ئې ساتلې دی. کشر ورور مې لا د سکول د تلو نهٔ دے. کور کښې لوبې کوی.
مریم او عائشه مې خوېندې دی. دواړه سکول ته یو ځای ځی راځی. د سکول نه پس دمور سره د کور کار کښې لاس کوی. مور مې د سحر نمونځ نه پس چای پخې کړی. ټول ئې په یو ځای وڅښو . مشر ورور مې پټی ته ، زهٔ او خوېندې مې سکول ته روان شو. مازیګر مونږ ورونړه خوېندې پټ پټوونے، اړنګ دوړنګ ، شلغاتی ، چیندرو او د ګوډا او ګوډې د وادهٔ لوبې کوو. ماسخوتن مونږ ته مور پلار د پخوانو بادشاهانو ، دېوانو او ښاپېرو قصې کوی. د قصې نه پس ټول خپلو خپلو کټونو کښې اودهٔ شو.



لوبې

## I د اندازې لګولو لوبې

**سبق** 4 (4)

### 1. اواز د چا وو؟

دا لوبه به د کلاس مخې ته کولے شی

استاذ دې پنځهٔ یا زیات ماشومان د کلاس مخې ته ودروی. یو تن به په لږه فاصله د دوی نه مخکښې او نور به ورپسې ولاړ وی. د دوی ټولو مخونه به کلاس ته وی. شاته ولاړو ماشومانو کښې به یو کس د استاذ په اشاره او ښودلو څهٔ اواز کوی یا د څهٔ څیز نوم اخلی. مخې ته ولاړ ماشوم به وائی چې اواز د کوم ماشوم وو.
استاذ دې دا لوبه د ماشومانو په بدلولو سره بیا بیا وکړی.

### 2. د څهٔ څیز اواز اورئ؟

استاذ ماشومانو ته وائی چې سترګې پټې کړئ او ماته غوږ شئ. ماشومان سترګې پټوی. استاذ دې وخت کښې لاس پړقوی یا د بل څیز نه اواز وباسی. ماشومانو ته وائی چې سترګې وغړوی او پوښتنه کوی:
د څهٔ څیز اواز مو واورېدو؟
استاذ د یو تن نه جواب غواړی او نورو نه پوښتنه کوی چې جواب ټیک دے او که غلط. دې نه پس به استاذ یو څو ماشومان وار په وار راغواړی او د استاذ په شان عمل به کوی او نور ماشومان به ئې جواب وائی.
استاذ به ئې مدد او رهنمائی کوی.

## II د خبرو کولو لوبه

سبق 5 (5)

استاذ یو داسې څیز ښئی چې ماشومان ئې پېژنی. ماشومان وار په وار د دغه څیز په حقله کم نه کم درې جملې وائی.

مثال:

استاذ خپل قلم ښئی. ماشومان د دې په حقله داسې جملې وئیلے شی:

- دا قلم دے.
- دا قلم تور دے.
- قلم د استاذ دے ............

لوبه به د مختلفو څیزونو په ښودلو او جملو وئیلو سره جاری ساتلے شی.

## III په حافظه کښې د ساتلو لوبه

استاذ د څهٔ څیز په حقله یو څو جملې وائی. ماشومان به دغه جملې په خپلو الفاظو کښې بیا وائی.

مثال:

- زمونږ سکول کښې څلور استاذان دی.
- دوی مونږ سره ډېر محنت کوی.
- مونږ سبق په مینه وایو.

که ماشومان جملې په ورکړے شوی ترتیب سره ووائی ډېر به ښهٔ وی او که په ترتیب سره ئې ونهٔ وائی نو هم په غلطۍ کښې نهٔ حسابیږی.

## IV د نقل کولو لوبه

استاذ په پټه خلهٔ د یو کار پېښې کوی. لکه د لاس وینځلو پېښې . ماشومانو نه به پوښتنه کوی چې ما څهٔ وکړل. ماشومان به جواب ورکوی چې تا لاسونه ووینځل. بیا ماشومان وار په وار د کلاس مخې ته د استاذ په شان د نورو کارونو پېښې کوی او نور ماشومان به ئې جواب وائی - سوال د ټولو نه او جواب همېشه د یو یو کس نه پکار دے.





سبق 6 (6)

## د نظم د ښودلو طریقه

### اماده کول

- استاذ ماشومان نظم اورولو ته اماده کوی.
- استاذ د نظم اورولو اعلان کوی، ماشومان ورته توجه ورکوی.

### نظم وئیل

- استاذ نظم په مزه مزه او د نظم په انداز کښې وائی.

### زما ګوډۍ

زما یوه ګوډۍ ده
ښائسته لکه سپوږمۍ ده
جامې ئې دی رنګینې ښائسته ښکلې مهینې
شنې سپینې دی، اودې دی هم تورې هم نیلی دی
وړې وړې ئې پښې دی پستې دی پاغوندې دی
دا غېږ کښې ګرځومه هر وخت ئې لوبومه
په ما پسې دا ژاړی دا مم له مانه غواړی
تر خلې چې د دې مم شی
قلاره هغه دم شی (داورخان داؤد)

- استاذ دې ماشومانو نه پوښتنه وکړی چې په نظم کښې مو کومې خبرې واورېدې
- استاذ دې نظم یو ځل بیا ووائی او لاندینۍ پوښتنې دې وکړی:
  - O نظم د څهٔ په حقله دے ؟ ( ګوډۍ)
  - O ګوډۍ د کوم څیز غوندې ښائسته ده ؟ ( سپوږمۍ )
  - O د ګوډۍ د جامو څنګه رنګ دے ؟ ( رنګینې )
  - O د ګوډۍ پښې څنګه دی ؟ ( پستې )
  - O ماشومان نور په څهٔ څهٔ لوبې کوې؟
- که ماشومانو کښې چاله دغسې نظم په یاد ورځی نو ودې وائی.
- ماشومان دې د نظم د یادولو کوشش وکړی.

## اړونه (دونړې)

### سبق 7 (7) د اړونو د وئېلو طریقه

- استاذ د اړونو وئېلو اعلان کوی. ماشومان ئې په غور اوری
- استاذ ړومبے اړ پخپله وائی: دا څۀ دی ؟

شپه او ورځ ګرځی دمه نۀ کوی

- ټول ماشومان سوچ کوی. یو کس جواب وائی: دا ګړی ده! (سوال د ټولو نه جواب د یو کس نه)
- استاذ لاندې اړونه یو بل پسې په هم دغه طریقه وائی.

1. چې څوان وی ږیره ئې سپینه وی چې بوډا شی ږیره ئې توره شی (وړے)
2. ورکوټے تنورګے د بچو ډک (انار)
3. ما جوړ کړو سم د لاسه پرې وختم د پاسه


په مخکښې او په شا ځی دے پورته په هوا ځی (ټال)

- که ماشومان د کوم اړ جواب نۀ شی وئېلے نو استاذ ئې رهنمائی او مدد کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې که چا ته نور دغسې اړونه ورځی هغه دې ووائی
- ماشومان د استاذ په شان کردار ادا کوی او وار په وار خپل اړونه وائی.



## عنوان: د سترې مشی طریقې

### سبق: 1 (8)




3

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ کلاس ته راننوځی
- او ماشومانو سره خپله پېژندګلو کوی: سلام پرې اچوی،
- ماشومان د سلام جواب ورکوی.
- ماشومان هم په دغه طریقه خپله خپله پېژند ګلو کوی.
- څو جوړې ماشومان د کلاس مخې ته راځی او د سترې مشی د مختلفو طریقو نقل کوی لکه سلام اچول، جوړ تازه کول ترغاړې وتل او داسې نور.

ماشومان ورته ګوری او خبرې پرې کوی.

- ماشومان کتاب کښې د ړومبۍ صفحې تصویرونو ته ګوری او وائی چې دې کښې د سترې مشی مختلفې طریقې ښودلے شوې دی.
- ماشومان وار په وار د بېل بېل تصویر تشریح کوی (یو ماشوم یو تصویر)
- استاذ ماشومانو ته وائی چې کله خلق یو بل سره سترې مشی کوی نو یو بل ته څۀ وائی. ماشومان وائی: السلام علیکم، په خیر راغلې، جوړتازه، څنګه ئې، څۀ حال دے ..........
- ماشومان یو ځل بیا د کلاس مخې ته د سترې مشی د مختلفو طریقو نقل کوی او نور ماشومان پرې خبرې کوی.




## عنوان: باران وریږی

سبق 2 (9)

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ په دوه دوه ماشومانو د تېر سبق د ستړی مشی د مختلفو طریقو عملی مظاهره کوی او د جوړ تازه وخت کښې چې کوم لفظونه استعمالیږی هغه ورسره وائی.
- استاذ ماشومانو ته وائی چې اسمان کښې د وریځې د پیداکېدو نه پس عام طور څه کیږی، ماشومان وائی: باران
- استاذ پوښتنه کوی چې تاسو کله باران ته کتلی دی چې څاڅکی ئې زمکې ته څنګه راځی، ماشومان جواب ورکوی او د لاس په ذریعه د پاس نه لاندې خوا ته د باران د څاڅکو د راغورزېدلو نقل کوی ( ډېر څله )
- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې داسې څناور پېژنئ چې ونې ته په منډه خیژی او په منډه راکوزیږی. ماشومان جواب ورکوی او د هغې عملی مظاهره کوی.
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې د پاسنۍ برخې تصویر ته وګورئ او چې څه پکښې وینئ بیان ئې کړئ؟
- ماشومان تصویر ته ګوری او وائی چې په ګلونو باران وریږی.
- ماشومان د لاسونو په ذریعه هوا کښې د باران د څاڅکو د راغورزېدلو څو څله نقل کوی.
- ماشومان د کتاب پاسنۍ برخه کښې د غشو په طرف د باران په څاڅکو ړومبے ګوته او بیا قلم ګرځوی.





## عنوان: نیغه لار


سبق 3 (10)

### د سبق ښودلو مشغلې

- ماشومان د تېر سبق د ولاړو کرښو نقل په هوا کښې د ګوتې په ذریعه کوی.
- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې تاسو کله لیدلی دی چې موټرې په سړکونو یو خوا بل خوا څنګه تېریږی ، ماشومان ئې د لاسونو د اشارو په ذریعه هوا کښې نقل کوی.
- استاذ ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ یوه پرته کرښه جوړوی، ماشومان ورته ګوری او په هوا کښې ئې د ګوتې په ذریعه نقل کوی.
- استاذ ماشومان ته وائی چې د صفحې لاندینۍ برخه کښې تصویر ته وګورئ او چې څه پکښې وینئ هغه بیان کړئ.
- ماشومان د صفحې متعلقه برخې ته ګوری او وائی چې یو بس د سکول خواته تلے دے. درې ماشومان او یو استاذ د سکول خواته روان دی.
- ماشومان د سکول په لاره ړومبے څو څله ګوته او بیا قلم ګرځوی.
- استاذ ماشومانو ته وائی چې ړومبے هوا کښې او بیا په سلېټونو د پرتو کرښو د جوړولو مشق وکړئ ، استاذ ئې جائزه اخلی.

## عنوان : جومات

سبق 4 (11)





### د سبق ښودلو مشغلې

- ماشومان په هوا کښې د ګوتې په ذریعه ولاړې او پرتې کرښې راکاږي.
- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې خلق نمونځ چرته کوی؟ ماشومان وائی: جومات کښې.
- استاذ پوښتنه کوی چې تاسو نمونځ کوئ او چرته؟ ماشومان جواب ورکوی.
- استاذ ماشومانو ته وائی چې کتاب کښې د صفحې د پاسنی برخې تصویر ته وګورئ اوپکښې د مختلفو مشغلو نومونه واخلئ. ماشومان وائی: څوک نمونځ کوی ، څوک اودس کوی او څوک سبق وائی........
- ماشومان د جومات د بېلو بېلو برخو نومونه اخلی لکه د اودس ځای، محراب، مناره ، د نمونځ ځای........
- استاذ د محراب د پاسه کلمه طیبه او الله ، محمدﷺ لولی ، ماشومان ئې ورپسې وائی.
- ماشومان د تصویر مطابق ړومبے د اودس ، بیا دنمونځ او دعا نقل کوی ، استاذ ئې رهنمائی او اصلاح کوی.
- عام طور سره چې خلق جومات کښې کوم کارونه کوی ماشومان ئې نومونه وائی ، استاذ ئې جائزه اخلی.



## عنوان : لرونه

سبق 5 (12)




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې خلق جومات کښې څۀ کوی نومونه ئې واخلئ.
- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې خلق ګیاه په څۀ رببی. ماشومان وائی: په لور.
- ماشومان د لور په شکل خبرې کوی او هوا کښې ئې شکل جوړوی.
- ماشومان د صفحې لاندې برخه کښې تصویرونو ته ګوری او وائی چې د دواړو قطارونو سر کښې د لرونو تصویرونه دی، د یو لور خلۀ یو طرف ته او د بل بل طرف ته ده.


دا نور د لرونو نیمګړی شکلونه دی.

- استاذ په بورډ لور جوړوی. ماشومان ورته ګوری او په هوا کښې د ګوتې په ذریعه څو ځله لور جوړوی ، بیا ئې په سلېټونو د جوړولو مشق کوی.
- ماشومان د ړومبی قطار سر کښې لور باندې ګوته، بیا په دوېم لور د غشی په طرف قلم ګرځوی. ورپسې په نورو لرونو هم په دغه طریقه قلم ګرځوی.
- ماشومان د دوېم قطار په لرونو هم په دغه طریقه کار کوی. استاذ ئې مدد کوی.
- ماشومان هوا کښې د ګوتې په ذریعه وار په وار د دواړو لرونو شکلونه جوړوی.
- ماشومان په سلېټونو د لرونو د شکل جوړولو مشق کوی. استاذ ئې جائزه اخلی.

## عنوان: کشتۍ د سیند چپو کښې

سبق 6 (13)

### د سبق ښودلو مشغلې




- ماشومان د تېر سبق د لرونو شکلونه ړومبې په هوا کښې د ګوتې په ذريعه او بيا په سلېټونو جوړوی.
- استاذ د ماشومانو نه پوښتنه کوی چې خلق سيند کښې د يوې غاړې نه بلې غاړې ته په څۀ پورې وځی ، ماشومان وائی: د کشتۍ په ذريعه.........
- استاذ د ماشومانو نه پوښتنه کوی چې تاسو کله کشتۍ کښې ناست يئ ، ماشومان جواب ورکوی.
- ماشومان د صفحې سر کښې تصويرونو ته ګوری او وائی چې يوه کشتۍ د سيند چپو کښې بلې غاړې ته پورې وتې ده او نورې به اوس پورې وځی.
- استاذ د سيند د چپو شکل په بورډ جوړوی. ماشومان ئې ړومبې د ګوتې په ذريعه هوا کښې او بيا په سلېټونو مشق کوی.
- ماشومان د دوېمې کشتۍ د پورې ويستلو دپاره د غشی په طرف د سيند په چپو ړومبې ګوته او بيا قلم ګرځوی او بلې غاړې ته کشتۍ جوړوی ، استاذ مدد کوی.
- ماشومان دغه نورې کشتۍ هم په دغه طريقه د سيند بلې غاړې ته پورې باسی.

### جائزه


ماشومان ړومبې په هوا کښې او بياپه سلېټونو د سيند د چپو جوړولو مشق کوی. استاذ ئې جائزه اخلی.



## عنوان: د شاتو مچۍ ګل له ځی

سبق: 7 (14)

### د سبق ښودلو مشغلې




- ماشومان د سيند د چپو نقل په هوا کښې د ګوتې په ذريعه کوی.
- استاذ پوښتنه کوی چې تاسو کله د شاتو مچۍ ليدلې ده چې هوا کښې څنګه الوزی . ماشومان هوا کښې د دې نقل کوی. استاذ مدد کوی.
- استاذ په بورډ د کرښو په ذريعه ښئی چې مچۍ څنګه الوزی. ماشومان ئې په هوا کښې نقل کوی.
- ماشومان د کتاب لاندينۍ برخه کښې تصويرونو ته ګوری او وائی چې يوه مچۍ ګل ته رسېدلې ده او دا نورې لا نۀ دی ور رسېدلې.
- ماشومان کتاب کښې د ړومبی قطار په کرښو څو ځله ګوته ګرځوی.
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د غشی په طرف د دوېم قطار د مچۍ په لاره ړومبې ګوته او بيا قلم وګرځوئ.
- ماشومان په پاتې دوه قطارونو هم دغه شان کار کوی، استاذ اصلاح او مدد کوی.

### جائزه

ماشومان يو ځل بيا د ټولو مچو په لاره قلم ګرځوی، استاذ پرې ګرځی راګرځی او جائزه ئې اخلی.

## سبق 1 (15)


## عنوان: ا

### تدریسی مقصدونه

- د (ا) اواز زده کول او ویستل
- د (ا) د سر او اخر شکلونه پېژندل
- د (ا) لیکل زده کول

### معاونات

د ام تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې د یو څو مېوو نومونه واخلئ
- ماشومان د ډېرو مېوو نومونه اخلی ( ډېر ماشومان نومونه وائی )
- استاذ ام یا د ام تصویر ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ (ام) څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ ماشومانو نه د لفظ(ام)د سر د اواز پوښتنه کوی ، ماشومان جواب ورکوی ، استاذ ئې مدد کوی

استاذ څو ځله د (ا) اواز وباسی ، ماشومان ئې ورپسې وائی

- استاذ کتاب کښې غټ (ا) ته اشاره کوی او وائی چې دا د (ا) شکل دے او نوم ئې الف دے. لاندې ترې نه د (ا) د سر او اخر شکلونه دی

استاذ بورډ ته مخ کوی او هوا کښې (ا) لیکی. ماشومان ئې هم دغه شان هوا کښې لیکی


### جائزه

هغه ماشومان خپل نومونه اخلی چې د (ا) نه شروع کیږی ، استاذ ئې جائزه اخلی



## سبق 2 (16)

### اعاده




- استاذ (ا) په بورډ لیکی. ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- استاذ په ماشومانو د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د (ا) نه شروع کیږی لکه ام - الوچه - انګور - الو - اس ..........

### د سبق ښودلو مشغلې

- ماشومان دصفحې لاندینی برخه کښې د ښی اړخ تصویرونو نومونه اخلی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د (ا) اواز څو ځله وباسی
- ماشومان هغه تصویرونه د (ا) سره د کرښې په مدد یوځای کوی چې د (ا) نه شروع کیږی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې ګڅ طرف ته شکلونه وګوری او د (ا) د صحی شکل نه کرښه تاو کړئ
- استاذ یو غټ (ا) په بورډ لیکی. ماشومان ئې هم دغه شان په هوا کښې، په زمکه او سلېټونو لیکی
- ماشومان رومبی الف ته ګوری، د غشی په طرف دوهم (ا) باندې قلم ګرځوی
- ماشومان ورکړے شوو کرښو باندې پخپله لیکی


### جائزه

ماشومان د داسې څیزونو یا خلقو نومونه اخلی چې د (ا) نه شروع کیږی، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان: م

## معاونات

د مچ تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه



## د سبق ښودلو مشغلې


- استاد ماشومانو ته وائی چې د يو څو ځناورو نومونه واخلئ، ماشومان ئې نومونه اخلی
- استاد د مچ تصویر ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی.
- استاد د مچ لفظ څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی.
- استاد ماشومانو نه د لفظ مچ د سر د اواز پوښتنه کوی ، ماشومان ئې اواز وباسی، استاد ئې مدد کوی.
- استاد څو ځله د ( م ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی.
- استاد کتاب کښې غټ ( م ) ته اشاره کوی او وائی دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې ( میم ) دے. لاندې ترې د ( م ) د سر منځ او اخر شکلونه دی.
- استاذ بورډ ته مخ کوی هوا کښې او په بورډ ( م ) لیکی. ماشومان ئې نقل کوی
- استاذ «ب» او «ا» په بورډ لیکی ، ماشومان د «ما» اواز وباسی - استاذ مدد کوی
- استاذ د «ا» او «م» نه جوړ شوی الفاظ په بورډ لیکې ، ماشومان ئې لولی .

## جائزه

هغه ماشومان خپل یا د نورو خلقو نومونه اخلی چې د ( م ) نه شروع کیږی،استاذ ئې جائزه اخلی







## اعاده

- استاذ ( م ) په بورډ لیکی، په یو څو ماشومانو ئې اواز وباسی او نوم ئې پرې اخلی
- استاذ په ماشومانو د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د ( م ) نه شروع کیږی لکه متر ، منګے ، مچې ..........

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې لاندینۍ برخه کښې ښی اړخ ته ( م ) او ( ما ) ولولئ
- ماشومان دواړه طرفته لیکلے شوی ( م ) او ( ما ) منځ کښې غټ ( م ) او ( ما ) سره د کرښې په مدد یو ځاے کوی
- ماشومان ګڅ اړخ ته تصویرونو ته ګوری او نومونه ئې اخلی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د ( ما ) اواز څو ځله وباسی ( ځانله ځانله او په ګډه سره )
- ماشومان د ( ما ) نه شروع کېدونکی تصویرونه، منځ کښې ( ما ) سره د کرښې په مدد یو ځاے کوی.
- استاذ یو غټ ( م ) او ( ما ) یو بل پسې په بورډ لیکی.ماشومان ئې هم دغه شان په هوا کښې، په زمکه او سلېټونو لیکی.
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبی ( م ) او ( ما ) ته ګوری، د غشی په مدد په دوېم ( م ) او ( ما ) قلم ګرځوی.
- ماشومان ورکړے شوو کرښو باندې ( م ) او ( ما ) پخپله لیکی. استاذ ئې مدد کوی

## جائزه


استاذ په ماشومانو د داسې څیزونو نومونه اخلی چې ( ما ) او ( م ) ئې سر کښې راځی لکه مار - مات - مال - مچ - مږه - مېز ........ استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان: ب

### سبق 1 (19)

### معاونات

د برش تصویری کارډ - بورډ - سلبټونه




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې خلق څپلۍ او بوټان په څۀ پالش کوی. ماشومان جواب ورکوی: په برش!
- استاذ برش یا د برش تصویر ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ برش څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ( برش ) د سر اواز ( ب ) وباسی
- استاذ پخپله څو ځله د(ب)اواز وباسی ، ماشومان ئې هم ورپسې وباسی
- استاذ کتاب کښې غټې ( ب ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې ( بې ) دے. ورلاندې د ( ب ) د سر منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او هوا کښې ( ب ) لیکی ، ماشومان ئې هم دغه شان څو ځله هوا کښې لیکی
- استاذ ( ب ) او ( ا ) په بورډ لیکی ، ماشومان ئې یو بل پسې اوازونه وباسی
- استاذ د ( ب ) او ( ا ) اوازونه یو ځائے کوی او د ( با ) اواز ترې جوړوی او د کتاب مطابق ئې په بورډ لیکی
- استاذ د معلومو هجو نه جوړ الفاظ په ماشومانو لولی ، استاذ ئې مدد کوی


### جائزه

هغه ماشومان خپل یا د نورو خلقو نومونه اخلی چې د ( ب ) نه شروع کیږی، استاذ ئې جائزه اخلی



### سبق 2 (20)

### اعاده




- استاذ(ب) په بورډ لیکی ، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی.
- استاذ په ماشومانو د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د ( ب ) نه شروع کیږی لکه بطه ، برقع ، بړستن .......

### د سبق ښودلو مشغلې


- ماشومان د صفحې لاندینی برخه کښې د ښی اړخ د تصویرونو نومونه اخلی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د ( ب ) اواز څو ځله وباسی
- ماشومان هغه تصویرونه د ( ب ) سره د کرښې په مدد یوځائے کوی چې نومونه ئې د ( ب ) نه شروع کیږی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې ګڅ طرفته تصویرونو ته وګورئ او نومونه ئې واخلئ
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې ( با ) اواز څو ځله وباسی
- ماشومان هغه تصویرونه ( با ) سره یو ځائے کوی چې نومونه ئې د ( با ) نه شروع کیږی
- استاذ یوه غټه ( ب ) بیا په بورډ لیکی ، ماشومان ئې په هوا کښې او په سلېټونو لیکی
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبۍ(ب) ته ګوری ، د غشی په طرف په دوېمه ( ب ) قلم ګرځوی.
- ماشومان په ورکړے شوو کرښو(ب)لیکی

### جائزه

ماشومان د هغه څیزونو نومونه اخلی چې سر کښې ئې ( ب ) یا ( با ) راځی. استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان: ر

### سبق 1 (21)




### معاونات

د رحل تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې تاسو کله کور یا جومات کښې سیپاره وایئ نو په څهٔ ئې ږدئ. ماشومان جواب ورکوی: په رحل
- استاذ رحل یا د رحل تصویر ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ رحل څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ رحل د سر اواز ( ر ) څو ځله وباسی
- استاذ پخپله څو ځله د ( ر ) اواز وباسی، ماشومان ئې هم ورپسې وباسی
- استاذ د کتاب سر کښې غټې ( ر ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئی ( رې ) دے. ورلاندې د ( ر ) د سر او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډته مخ کوی او هوا کښې ( ر ) لیکی، ماشومان ئې هم دغه شان هوا کښې لیکی
- استاذ د ر ا ـ را ترکیبونه په بورډ لیکی، ماشومان ترې د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه هجه جوړوی
- استاذ لفظونه او جمله په بورډ لیکی. ماشومان ئې لولی. استاذ ئې مدد کوی.

### جائزه


استاذ د مختلفو څیزونو نومونه اخلی، د کوم نوم سر کښې چې ماشومان د ( ر ) اواز اورِی، لاس اوچتوی

- ماشومان هجې او الفاظ د حرفونو د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه لولی، استاذ ئې جائزه اخلی



### سبق 2 (22)

### اعاده




- استاذ ( ر ) په بورډ لیکی ، ماشومان ئې ځانله ځانله او په ګډه اواز وباسی
- استاذ په ماشومانو د تېر سبق هجې، الفاظ او جمله لولی

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې ښی طرفته د حروفو شکلونه وګورئ او د ( ر ) شکل نه‌کرښه تاو کړئ.
- استاذ ماشومانو باندې ګڅ طرفته هجې لولی
- استاذ وائی چې پاس او لاندې قطارونو کښې یوشان هجې د کرښې په ذریعه یوځاے کړئ او بیا ئې ولولئ
- استاذ بیا یوه غټه ( ر ) په بورډ لیکی، ماشومان ئې په هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبۍ ( ر ) ته ګوری او په دوېمه ( ر ) د غشی په لار قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو پخپله ( ر ) لیکی، استاذ مدد او رهنمائی کوی
- ماشومان د داسې څیزونو نومونه اخلی چې سر کښې ئې با ، ما راځی

### جائزه

- استاذ ماشومانو ته وائی چې په سلېټونو د را- با - ما د لیکلو مشق وکړئ، استاذ ئې جائزه اخلی.

## عنوان : ل

### سبق 1 (23)



ل

ل - ـلـ - ـل

ـا ل - لا - ـلا

لالا - بال - لار - لال-

لالا بال را-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ل | ر | ا | ل | م | ل |
| ر | م | ل | ا | ر | ر |
| ا | ر | ب | م | ل | ا |
| م | م | ر | ل | م | ل |
| ب | ر | ا | ب | ب | ل |

ل لُ ل _ _ _ _ _ _ _ _ _ _ _ _ _

11

### معاونات

د لړم تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې د یو څو داسې څیزونو نومونه واخلئ چې خلق چیچی. ماشومان وائی: مار - مچې ... لړم
- استاذ د لړم تصویر ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی، خبرې پرې کوی
- استاذ لفظ (لړم) څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی.
- استاذ په ماشومانو د لفظ (لړم ) د سر اواز (ل) څو ځله وباسی
- استاذ څو ځله د (ل) اواز وباسی ، ماشومان ئې ورپسې وباسی
- استاذ د صفحې په سر کښې غټ (ل) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې (لام) دے ، ورلاندې د (ل) د سر منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډته مخ کوی او هوا کښې (ل) لیکی ، ماشومان ئې هم دغه شان هوا کښې لیکی
- استاذ ورکړے شوې هجه، لفظونه او جمله په بورډ لیکی ماشومان ئې لولی. استاذ مدد کوی

### جائزه

یو څو ماشومان وار په وار ودریږی او د هغه څیزونو نومونه اخلی چې سر کښې ئې د (ل) اواز راځی . استاذ ئې جائزه اخلی



### سبق 2 (24)



ل

ل - ـلـ - ـل

ـا ل - لا - ـلا

لالا - بال - لار - لال-

لالا بال را-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ل | ر | ا | ل | م | ل |
| ر | م | ل | ا | ر | ر |
| ا | ر | ب | م | ل | ا |
| م | م | ر | ل | م | ل |
| ب | ر | ا | ب | ب | ل |

ل لُ ل _ _ _ _ _ _ _ _ _ _ _ _ _

11

### اعاده

- استاذ (ل) په بورډ لیکی ، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- ماشومان د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د (ل) اواز ئې اخر کښې وی لکه جال - کال - شل - ګل .....

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې ښی طرفته خانو کښې د غټو لیکلے شوو حروفو اوازونه وباسئ او نومونه ئې واخلئ
- استاذ ماشومانو ته وائی چې هر غټ حرف ته مخامخ قطار کښې حرفونه ولولئ او د دغه شان حرف نه کرښه تاو کړئ
- دوه دوه ماشومان خپلو کښې د یو بل کتابونه ګوری او د کار جائزه ئې اخلی - یو ماشوم یو حرف ته اشاره کوی بل ئې اواز وباسی ( وار په وار )
- استاذ یو غټ (ل) په بورډ لیکی، ماشومان ئې په هوا کښې او په سلېټونو د لیکلو مشق کوی
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبی (ل) ته ګوری، دغشی په طرف په دوېم (ل) قلم را کاږی او په ورکړے شوو کرښو ئې پخپله لیکی

### جائزه


ماشومان د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې سر کښې ئې (ل) راځی ، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان: د

سبق 1 (25)

### معاونات

د دروازې تصویری کارډ-بورډ-سلېټونه




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې تاسو کورِ یا کوټې ته په کومه لار ننوزئ، ماشومان وائی: په دروازه
- استاذ د دروازې تصویری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ ( دروازه ) څو ځله وائی او د سر په اواز ( د ) زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ ( دروازه ) د سر اواز ( د ) څو ځله وباسی
- استاذ پخپله څو ځله د ( د ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائې
- استاذ د صفحې سر کښې غټ ( د ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې ( دال ) دے ، ورلاندې د ( د ) د سر او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او هوا کښې ( د ) لیکی ماشومان ئې هم دغه شان هوا کښې لیکی
- استاذ هجه ، لفظونه او جملې په بورډ لیکې- ماشومان ئې لیکی- استاذ مدد کوی.
- جائزه


هغه ماشومان خپل یا نور نومونه اخلی چې د ( د ) نه شروع کیږی، استاذ ئې جائزه اخلی



سبق 2 (26)

### اعاده

- استاذ ( د ) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- استاذ د تیر سبق لفظونه ام - دال - دار په بورډ لیکی او په ماشومانو ئې لولی




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې لاندینی برخه کښې ښی طرف ته د حرفونو شکلونو ته وګورئ او د ( د ) د حرف نه کرښه تاو کړئ

ماشومان ښی طرف ته حرفونو کښې د «د» نه کرښه چاپیره کوی

- استاذ ماشومانو ته وائی چې ګڅ اړخ کښې تصویرونو ته وګورئ او نومونه ئې واخلئ!
- استاذ ماشومان د ( د ) په مثال پوهوی
- ماشومان د هر تصویر نوم اخلي او د «د» نه شروع کیدونکے تصویر «د» سره یوځائےکوی
- استاذ یو غټ ( د ) ړومبے په هوا کښې او بیا په بورډ لیکی ، ماشومان ئې هم په هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبی ( د ) ته ګوری او د غشی په طرف دوېم ( د ) باندې قلم راکاږی
- ماشومان ورکړے شوو کرښو باندې ( د ) پخپله لیکی، استاذ ئې اصلاح کوی

### جائزه

ماشومان د تصویرونو د نومونو د سر اواز وباسی، استاذ ئې جائزه اخلی


## جائزه I

سبق: I (27)

### معاونات

په صفحه د ورکړے شوو تصویرونو کارډونه

### د سبق ښودلو مشغلې




- استاذ د یو څو ځیزونو نومونه اخلی لکه بال - مالی - دال - لا ټین .... ماشومان به د هر نوم د سر د هجې ( با - ما - دا - لا ) اواز وباسی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې په صفحه کښې تصویرونو ته وګورئ او د هر یو نوم واخلئ
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې هجې لولی ( یو ماشوم یوه هجه )
- استاذ ماشومان په ړومبی مثال پوهوی
- ماشومان هم دغه شان باقی هجې د متعلقه تصویرونو سره د کرښې په ذریعه یو ځاے کوی. استاذ ئې کار په غور سره ګوری.
- ماشومان دغه هجې یو بل پسې لولی او د لوستلو دوران کښې متعلقه تصویر ته اشاره کوی او نوم ئې اخلی
- ماشومان لاندې برخه کښې غټې لیکلے شوې هجې کلاس ته لولی
- ماشومان په دغه هجو ړومبے ګوته ګرځوی او بیا ئې په سلېټونو لیکی
- ماشومان قطار کښې ړومبۍ هجې ( با ) ته ګوری، په دویمه هجه د غشی په طرف قلم ګرځوی او نورې پخپله په ورکړے شوو کرښو لیکی
- ماشومان پاتې هجو باندې په هم دغه طریقه کار کوی، استاذ ئې جائزه اخلی.



## عنوان: ی

سبق I (28)

### معاونات

د "یوې" تصویری کارډ - بورډ - سلیټونه




### د سبق ښودلو مشغلې


- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې زمیدار کله غنم کری نو د ابۀ خور نه پس پټی کښې څۀ کوی؟ استاذ ماشومانو ته وائی چه ستاسو کلی کښې زمیندار پټی په څه اړوی؟ ماشومان جواب ورکوی: یوې اتریکټر
- استاذ د یوې تصویری کارډ ښئی ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ ( یوې ) څوځله وائی او د سر په اواز ( یـ ) زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ ( یوې ) د سر اواز څو ځله وباسی
- استاذ د ( ی ) اواز وباسی، ماشومان ئې استاذ پسې وائی.
- استاذ صفحه کښې لاندې غټې ( ی ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د ( یـ ) پوره شکل دے او نوم ئې ( یې ) دے
- استاذ بورډ ته مخ کوی او هوا کښې ( یـ ) لیکی ، ماشومان ئې هم دغه شان څو ځله هوا کښې لیکی
- استاذ ( ی ا یا یا ) یو بل پسې په بورډ لیکی - ماشومان ئې د اوازونو یو ځاے کولو په ذریعه لولی - استاذ مدد کوی
- استاذ یاد - یار - یم په بورډ لیکی. ماشومان ئې د اوازونو د یو ځاے کولو په ذریعه لولی

### جائزه

ماشومان د یوڅو داسې ځیزونو نومونه اخلی چې سر کښې ئې ( یـ ) راځی، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان : ی

سبق 2 (29)




### معاونات

د «درزی» تصویری کارډ-بورډ-سلېټونه

### اعاده

- ماشومان د تېر سبق لفظونه کلاس ته لولی
- استاذ د یو څو څیزونو نومونه اخلی، د کوم نوم سر کښې چې د (ی) اواز اوری، ماشومان لاسونه اوچتوی

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې څوک جامې ګنډی هغهٔ ته خلق څهٔ نوم اخلی. ماشومان وائی : درزی
- استاذ د درزی تصویری کارډ ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ د درزی نوم څو ځله وائی او د اخر په اواز زور ورکوی
- ماشومان د درزی د نوم د اخر اواز څوځله وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ پخپله څو ځله د (ی) اواز (ای) وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د درزی تصویر نه لاندې ګڅ ګوټ کښې (ی) ته اشاره کوی او وائی چې دا شکل د نوم اخر کښې راځی
- استاذ (حرفونه او هجې) په بورډ لیکی، ماشومان ئې د اوازونو د یوځائے کولو په ذریعه لولی. استاذ ئې مدد کوی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او هوا کښې (ی) لیکی، ماشومان ئې هم هوا کښې او په سلېټونو لیکی

### جائزه

ماشومان د هغه څیزونو نومونه اخلی چې اخر کښې ئې (ی) راځی



سبق 3 (30)




### اعاده

- استاذ په ماشومانو د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د (ی) اواز ئې اخر کښې راځی لکه موچی - دوبی - چابی - سبزی...
- استاذ د لفظ د سر (یـ) او د لفظ د اخر (ی) یو بل پسې په بورډ لیکی او ماشومان ئې متعلقه اوازونه وباسی

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ (ی) په بورډ لیکی، ماشومان ئې په سلېټونو لیکی
- ماشومان خانه کښې ړومبی (ی) ته ګوری، په ورپسې (ی) قلم ګرځوی او نورې په کرښو پخپله لیکی
- استاذ د صفحې لاندې برخه کښې ښی اړخ ته لفظونه او جملې په بورډ لیکی ماشومان ئې لولی استاذ مدد کوی.
- ماشومان ګڅ اړخ کښې تصویرونو ته ګوری او نومونه ئې اخلی
- استاذ ماشومان په ړومبی مثال (بابی) پوهوی
- ماشومان د پاس مثال پشان پاتې لفظونه د تصویر په مدد مکملوی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ دغه لفظونه په بورډ لیکی، ماشومان ورسره خپل لفظونه صحی کوی
- ماشومان دغه لفظونه کلاس ته لولی او په اخری اواز زور ورکوی

### جائزه

ماشومان لفظونه او جملې لولی،استاذ ئې جائزه اخلی


## عنوان : ے

سبق 1 (31)

### معاونات

د ( مېږی ) تصویری کارډ- بورډ- سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې




- استاذ د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې اخر کښې د ( ے ) اواز راځی لکه سپے ، زمرے ، سړے .... زور به همېشه په اخر اواز ( ے ) ورکوی
- استاذ د ( مېږی ) تصریری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ مېږے څو ځله وائی او د اخر په اواز زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ ( مېږے ) د اخر اواز څو ځله وباسی
- استاذ څو ځله د ( ے ) اواز وباسی ماشومان ئې ورپسې هم وائی.
- استاذ د صفحې سر کښې غټې ( ے ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د ( ے ) د اواز شکل دے او نوم ئې ( يې ) دے ، ورلاندې ئې منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ باندې د ( ے ) سره سر کښې مختلف حرفونه یوځای کوی او د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه ئې په ماشومانو لولی

- استاذ لفظونه او جملې په بورډ لیکی. ماشومان ئې لولی استاذ مدد کوی.
- استاذ بورډ ته مخ کوی او ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ ( ے ) لیکی
- ماشومان ئې د استاذ پشان ړومبے څو ځله په هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- ماشومان د هغه څیزونو نومونه اخلی چې اخر کښې ئې «( ے» راځی

### جائزه

استاذ په بورډ باندې ( ے ) لیکی او سر کښې ورسره وار په وار وئېلے شوی حرفونه یوځاے کوی او ماشومان ئې اواز وباسی




سبق 2 (32)

### اعاده

- ماشومان د تېر سبق هجې، لفظونه او جملې وار په وار کلاس ته لولی
- ماشومان د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې اخز کښې ئې ( ے ) راځی لکه مزے ، پړے ، وړے .... ړومبے مثال استاذ ورکوی .

### د سبق ښودلو مشغلې




- استاذ یوه غټه ( ے ) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او په سلېټونو ئې لیکی
- ماشومان خانه کښې ړومبۍ ( ے ) ته گوری، په دوېمه ( ے ) د غشی په طرف قلم گرځوی او په ورکړے شوو کرښو ( ے ) پخپله لیکی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې دَ لاندینۍ برخې په ښی اړخ کښې د بېل بېل تصویر نوم واخلئ او د اخر اوازونه ئې وباسئ
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د ( ے ) او ( ی ) اوازونه وباسی
- استاذ ماشومان په ورکړے شوو مثالونو پوهوی
- د کوم تصویر په آخر کښې چې د «ے» او «ی» راځي ماشومان ئی منځ کښې د متعلقه حرف سره د کرښې په ذریعه یو ځاے کوی
- ماشومان کڼ اړخ کښې د تصویرونو نومونه اخلی
- استاذ ماشومانو باندې د هر تصویر مخامخ نیمگړې جملې لولی
- استاذ ړومبۍ جمله د ماشومانو سره یو ځاے مکملوی
- ماشومان د دغه نورو نیمگړو جملو خالی ځایونو کښې مناسب لفظونه لیکی
- ماشومان مکمل کړے شوې جملې کلاس ته لولی

### جائزه

دوه دوه ماشومان کلاس کښې ودرېږی. یو د داسې څیزونو نومونه اخلی چې اخر کښې ئې ( ی ) او بل د داسې چې اخر کښې ئې ( ے ) راځی، استاذ ئې جائزه اخلی

# عنوان: ه

سبق: 1 (33)

## معاونات

د »هلک« تصویری کارډ- بورډ- سلېټونه


هـ - هـ
ها ها- هی هی- هے هے
هار هادی-
دا هار دے-
هادی دا دے-

ہ
ه
ده - ره -
اره - لاره
دا اره ده - لاره دا ده-

ـه
ه
مه مه - به به - له له-
ما له اره را-
هاله دا ده - هادی دا دے
هادی ماله اره را

هـ
ہ
ـه

16

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ پوښتنه کوی چې ماشوم لږ لوے شی خلق ورته څهٔ نوم اخلی، ماشومان وائی: (هلک)
- استاذ د هلک تصویری کارډ ښئی ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ هلک څو ځله وائی او د سر په اواز (هـ) زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ هلک د سر اواز (هـ) څو ځله وباسی
- استاذ پخپله د (هـ) اواز وباسی، ماشومان ئې هم ورپسې وباسی
- استاذ صفحه کښې تصویر سره غټې (هـ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې (هې) دے، ورلاندې د دې د سر او منځ شکلونه دی
- استاذ د (هـ) هجې په بورډ لیکی، ماشومان ئې اوازونه وباسی
- ماشومان ورپسې لفظونه او جملې ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ مدد کوی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او ړومبے (هـ) هوا کښې او بیا په بورډ لیکی
- ماشومان ئې د استاذ پشان ړومبے څو ځله هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبۍ (هـ) ته گوری او په دوېمه (هـ) د غشی په لار قلم گرځوی او نورې (هـ) په ورکړے شوو کرښو پخپله لیکی

## جائزه

ماشومان هجې، لفظونه او جملې یو ځل بیا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی




# عنوان: ه

سبق 2 (34)

## معاونات

د »ارې« تصویری کارډ- بورډ- سلېټونه


هـ - هـ
ها ها- هی هی- هے هے
هار هادی-
دا هار دے-
هادی دا دے-

ہ
ه
ده - ره -
اره - لاره
دا اره ده - لاره دا ده-

ـه
ه
مه مه - به به - له له-
ما له اره را-
هاله دا ده - هادی دا دے
هادی ماله اره را

هـ
ہ
ـه

16

## د سبق ښودلو مشغلې


- استاذ پوښتنه کوی چې هغه کوم څیز دے چې ډېر غاښونه لری او خلق پرې لرگی پرېکوی. ماشومان وائی: اره
- استاذ اره یا د ارې تصویری کارډ ښئی ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ څو ځله لفظ (اره) وائی او د اخر په اواز (ه) زور اچوی
- استاذ ځانله د (ه) اواز څو ځله وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ صفحه کښې تصویر نه لاندې غټې (ه) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې (هې) دے. ورلاندې ئې د اخر شکل دے.
- استاذ هجې (ده ، ره) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اوازونه وباسی
- ماشومان ورپسې لفظونه او جملې لولی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ بورډ ته مخ کوی ، ړومبے په هوا کښې او بیا په بورډ (ه) لیکی
- ماشومان ئې هم دغه شان ړومبے هوا کښې او بیا په سلېټونو یا تختۍ لیکی
- ماشومان لاندې دوېمه خانه کښې ړومبۍ (ه) ته گوری او په دوېمه (ه) د غشی په طرف قلم راکاږی او نورې په ورکړے شوو کرښو پخپله لیکی

## جائزه

ماشومان د داسې څیزونو نومونه اخلی چې اخر کښې ئې (ه) راځی، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان: ـه

سبق 3 (35)


ها ها ـ هی هی ـ هے هے
هار هادی ـ
دا هار دے ـ
هادی دا دے ـ

ده ـ ره ـ
اره ـ لاره
دا اره ده ـ لاره دا ده ـ

مه مه ـ به به ـ له له ـ
ما له اره را ـ
هاله دا ده ـ هادی دا دے
هادی ماله اره را

ھ ـ ھ
ھ
ه
ه
ه

16

### معاونات

د بطې تصویری کارډ ـ بورډ ـ سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې دا څۀ دی؟
هګۍ اچوی، په زمکه ګرځی الوتے هم شی او په ابو کښې لامبو وهی. ماشومان وائی: دا بطه ده
- استاذ د بطې تصویری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ (بطه) څو ځله وائی او د اخر په اواز زور اچوی
- استاذ د (ـه) ځانله اواز څو ځله وباسی ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د تصویر نه لاندې غټې (ـه) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې (هې) دے ،ورلاندې ئې د اخر شکل دے.
- استاذ هجې (مه به له) یو بل پسې په بورډ لیکی، ماشومان ئې اوازونه وباسی
- ماشومان ورپسې جملې ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او ړومبے (ـه) په هوا کښې او بیا په بورډ لیکی
- ماشومان هم دغه شان (ـه) په هوا کښې او بیا په سلېټونو څو ځله لیکی
- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبۍ (ـه) ته ګوری او په دوېمه (ـه) د غشی په طرف قلم ګرځوی او نورې په ورکړے شوو کرښو پخپله لیکی


### جائزه

ماشومان د دې سبق جملې یو ځل بیا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی



## عنوان: ج

سبق 1 (36)


ج
ج ـ جـ ـ ـجـ ـ ج
جا ـ جه ـ جی ـ جے ـ جو ـ
جام ـ جال ـ باجه ـ داجی ـ جول ـ
باجی دا ده ـ باجی جام را ـ
داجی ماله باجه را ـ

ج
جا

جام
م
ل
جا
ج
ر

17

### معاونات

د (جنډې) تصویری کارډ

### د سبق ښودلو مشغلې


- استاذ د ماشومانو نه پوښتنه کوی چې زمونږ د وطن د پېژندګلو څۀ نخښه ده؟ ماشومان وائی: (جنډه)
- استاذ (جنډه) یا د جنډې تصویر ښئی ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ (جنډه) څو ځله وائی او د سر په اواز (ج) زور ورکوی
- استاذ په ماشومانو د لفظ (جنډه) د سر اواز څو ځله وباسی
- استاذ د (ج) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د صفحې سر کښې غټ (ج) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دغه اواز شکل دے او نوم ئې (جیم) دے. ورلاندې د دې د سر، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ(جا ـ جه ـ جې ـ جے ـ جو) په بورډ لیکی. ماشومان ئې د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه لولی. استاذ رهنمائی او مدد کوی
- ماشومان لفظونه او جملې وار په وار لولی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ بورډ ته مخ کوی، ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ (ج) لیکی
- ماشومان ئې د استاذ پشان ړومبے په هوا کښې او بیا په سلېټونو څو ځله لیکی

### جائزه

- ماشومان هجې او جملې کلاس ته لولی، استاذ ئې جائزه اخلی
- ماشومان د داسې څیزونو نومونه اخلی چې د ج نه شروع کیږی، لکه جرګه ـ جومات

## سبق 2 (37)

### اعاده




- ماشومان د تیرې ورځې د سبق هجې، الفاظ او جملې ګلاس ته لولی
- ماشومان د یوځو داسې څیزونو نومونه اخلی چې سر کښې ئې (ج) راځی لکه جیب، جوش، جبار ....

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ج په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی
- استاذ "جا" په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی
- ماشومان خانه کښې ړومبی (ج) ته ګوری، په دوېم (ج) د غشی په طرف قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو پخپله (ج) لیکی
- ماشومان د (جا) هجه هم په دغه طریقه خانه کښې لیکی
- استاذ د (جا) هجه بیا په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی
- استاذ د (جا) نه لږ لرې حرف (م) لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی
- ماشومان د (جا) او (م) اوازونه یو ځاے کوی او لفظ (جام) جوړوی، استاذ ئې په بورډ لیکی
- استاذ (جا) ته مخامخ د (م) نه لاندې حروف (ل ، ج ، ر) لیکی او په دغه شان ترې د «جا» سره د یوځاے کولو په ذریعه لفظونه جوړوی.
- ماشومان د صفحې لاندینی برخه کښې د (جام) نه لاندې کرښو باندې جوړ کړے شوی الفاظ لیکی، استاذ مدد کوی
- ماشومان جوړ کړے شوی الفاظ کلاس ته لولی یو ماشوم یو لفظ

### جائزه

ماشومان د صفحې د پاسنی برخې هجې، الفاظ او جملې کلاس ته لولې، استاذ ئې جائزه اخلی



## عنوان: و

## سبق 1 (38)

### معاونات

د (ونه) تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې کله بوټے لوے شی خلق ورته څۀ نوم اخلی. ماشومان وائی: ونه
- استاذ د ونې تصویر ښئی. ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ د ونې لفظ څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- ماشومان د لفظ (ونه) د سر اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ پخپله څو ځله د (و) اواز وباسی ماشومان ئې ورپسې وائي.
- استاذ کتاب کښې غټ (و) ته اشاره کوی او وائې دا د (و) شکل دے او نوم ئې (واو) دے. لاندې ترې د (و) د سر او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او هوا کښې (و) لیکی. ماشومان ئې هم هوا کښې لیکی
- استاذ هجې(وا-وه-وی-وے-وو) په بورډ لیکی او ماشومان ئې د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه لولی
- ماشومان د هجو لاندې لفظونه او جمله ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ مدد کوی

### جائزه

ماشومان د داسې څیزونو او خلقو نومونه اخلی چې سر کښې ئې (و) راځی لکه ور ، وطن ، واسکټ ، وزیر ، وړے ....، استاذ ئې جائزه اخلی

## اعاده

- استاذ (و) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلي

استاذ په ماشومانو د یو څو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د (و) نه شروع کیږی لکه ونه، وړے .....




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذماشومانو ته وائی چې لاندینۍ برخه کښې ښی اړخ ته(و) او (وا) اوازونه وباسئ
- ماشومان ښی اړخ ته تصویرونو ته گوری او نومونه ئې اخلی
- ماشومان بیا د تصویرونو نومونه اخلی او په ورلاندې کرښه د لیکلے شوو حرفونو اوازونه وباسی او نومونه ئې اخلی۔ استاذ ئې جائزه اخلی.



## عنوان : ې

**سبق :** 1 (82)


ې
بې - نې - چې - دې - مې
بې بې - جامې - ادې - کښې -
جیب - نیغ - جېل - مېز -
ادې بې بې له جامې ورکړې -
ې
بې - کې - ړې - جې - رې -
ابې - لکې - وړې - بوجې - درې -
جینې - کټوې - تختې - کرسې -
جینې تختې لیکی - ابې
کټوې پسې اور بلوی -
ئ
چپ شئ - لاړشئ - مه کوئ -
وهئ - مه وهئ - لیکئ - مه لیکئ -
لولئ - مه لولئ - خورئ - مه خورئ -
په ډرې کښېنئ ، کتاب
ولولئ او تختې ولیکئ !
42

**معاونات :** د مږې تصویری کارډ
بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې هغه کوم ځناور دی چې په سوړو کښې اوسی او د پیشو نه ویریږی ، ماشومان وائی ( مږې )
- استاذ د مږې تصویر ښئی ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ ( مږې ) څو ځله وائی او د اخر په اواز زور ورکوی
- استاذ د ماشومانو نه د لفظ ( مږې ) د اخر د اواز پوښتنه کوی، ماشومان ئې اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ د ( ې ) اواز څو ځله وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د صفحې سر کښې غټې ( ې ) ته اشاره کوی او وائی دا د ( ې ) شکل دے او نوم ئې ( یې ) دے
- استاذ بورډ ته مخ کوی ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ ( ې ) لیکی ماشومان ئې هم دغه شان هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- ماشومان د بې - نې - چې - دې - مې هجې د جروفو د اوازونو د یوځائے کولو په ذریعه لولی هر ځل په اخری اواز زور اچوی. استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان د هجو نه لاندې لفظونه چې ( ې ) ئې اخر کښې او منځ ( ېـ ) کښې راغلې دی د هجو د یوځائے کولو په مدد لولی

**جائزه :** ماشومان داسې نومونه اخلی چې ( ې ) ئې اخر کښې راځی

## عنوان: ې

سبق: 2 (83)

**معاونات:** ټوپۍ او د ټوپۍ تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې




- استاذ ماشومانو ته وائی چې د لرگی نه جوړه ده او تاسو پرې خط لیکئ. دا څهٔ دی؟ ماشومان وائی دا تختۍ ده
- استاذ بیا پوښتنه کوی چې د هغه څیز څهٔ نوم دے چې خلق ئې په سر کوی. ماشومان وائی: دا ټوپۍ ده.
- استاذ ټوپۍ یا د ټوپۍ تصویری کارډ ښئ، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ ټوپۍ څو ځله وائی، او د اخر په اواز ئې زور اچوی
- ماشومان د لفظ ټوپۍ د اخر اواز ویستلو کوشش کوی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ څو ځله د (ۍ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی.
- استاذ په صفحه کښې غټې (ۍ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې (یې) دے
- استاذ بورډ ته مخ کوی، ړومبے په هوا کښې او بیا په بورډ (ۍ) لیکی، ماشومان ئې استاذ پسې په هوا کښې او بیا په سلېټونو څو ځله لیکی
- ماشومان د غټې (ۍ) نه لاندې هجې لولی، هر ځل په اخر اواز (ۍ) زور اچوی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ ورکړے شوی لفظونه او جمله ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ مدد کوی

**جائزه:** ماشومان داسې نومونه اخلی چې اخر کښې ئې (ۍ) راځی لکه کټوۍ، شړۍ .... استاذ ئې جائزه اخلی



## عنوان: ئ

سبق: 3 (84)

**معاونات:** د (چپ شئ) تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې





- استاذ دوو ماشومانو ته وار په وار حکم ورکوی: پاځئ، کښېنئ، ولیکئ، ځئ ... ماشومان هر ځل د دغه حکمونو مطابق عمل کوی.
- استاذ د (چپ شئ) تصویری کارډ ښئی، ماشومان وائی چې دې کښې یوهلک ماشومانو ته په اشاره کښې وائی (چپ شئ!)
- استاذ (چپ شئ) څو ځله وائی، هر ځل په (شئ) کښې اخری اواز (ئ) باندې زور اچوی
- استاذ (شئ) څو ځله وائی او بیا څو ځله د (ئ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی.
- استاذ د صفحې لاندینۍ برخه کښې غټې (ئ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے، د دې نوم هم (یې) دے
- استاذ غټه (ئ) په بورډ لیکی، ماشومانو سره یوځائے ئې اواز وباسی
- ماشومان څو ځله (ئ) په خپلو سلېټونو لیکی
- استاذ وائی چې د تېر سبق د (ۍ) او د دې (ئ) اوازونه یو شان دی خو (ۍ) د مؤنثو نومونو اخر کښې راځی لکه جینۍ، تختۍ، ټوپۍ او (ئ) د څهٔ کولو (فعل) په نوم کښې راځی لکه پاځئ، وخورئ، ولیکئ، کوئ ...
- ماشومان ورکړے شوی لفظونه او جملې د استاذ په مدد لولی (یو ماشوم یو لفظ او یوه جمله)

**جائزه:** استاذ داسې لفظونه وائی چې د ځنو په اخر کښې (ۍ) او ځنو کښې (ئ) راځی. کله چې ماشومان داسې لفظ واوری چې (ئ) په کښې راځی لاس اوچتوی

## جائزه VI

سبق: 1 (85)





### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې صفحه کښې تصویرونو ته وګورئ او چې څۀ پکښې وینئ هغه ووایئ
- ماشومان د هر تصویر نوم اخلی. استاذ ئې د اخری اواز پوښتنه کوی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د حروفو اوازونه وباسی او نوم ئې هم اخلی
- استاذ ماشومان په ړومبی مثال ( موچی ) پوهوی
- ماشومان په همدغه شان د نورو تصویرونو د نومونو اخر اواز، منځ کښې د متعلقه حروفو یا اوازونو سره د کرښې په ذریعه یوځاے کوی
- استاذ د ماشومانو د کار جائزه اخلی.
- ماشومان دغه نومونه یو ځل بیا اخلی او منځ کښې متعلقه حرف ته ئې اشاره کوی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې حرفونه په خپلو سلېټونو لیکی. استاذ پرې ګرځی را ګرځی او کار ئې ګوری



## عنوان: څ

سبق: 1 (86)




**معاونات:** څټک او د څټک تصویری کارډ- بورډ- سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې


- استاذ وائی دا څۀ دی چې خلق ئې په پښو کوی: ماشومان وائی: دا څپلۍ دی
- استاذ پوښتنه کوی چې موچی څپلۍ باندې په څۀ میخ ټک وهی؟ ماشومان وائی: د څټک په ذریعه
- استاذ څټک یا د څټک تصویری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ پخپله د څټک نوم څو ځله اخلی او د سر په اواز ئې زور ورکوی
- ماشومان د څټک د سر اواز ( څـ ) وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ پخپله څو ځله د ( څـ ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د صفحې سر کښې غټې ( څ ) ته اشاره کوی، وائی چې دا د دې اواز شکل دے، نوم ئې ( څیم ) دے او ورلاندې ئې د سر، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی، ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ ( څ ) لیکی
- ماشومان ئې هم ړومبے هوا کښې او بیا د بورډ نه په سلېټونو نقل کوی
- ماشومان د ( څ ) نه لاندې هجې لولی، استاذ ئې مدد کوی.
- ماشومان لفظونه او جملې ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ ئې مدد کوی

**جائزه:** ماشومان جملو کښې هغه لفظونه لولی چې( څ ) پکښې راځی، استاذ ئې جائزه اخلی

## سبق: 2 (87)

### اعاده

- استاذ په ماشومانو د هغه څیزونو نومونه اخلی چې د (څ) نه شروع کیږی لکه څادر، څانګه، څپلۍ ...




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ (څ) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی.
- ماشومان خانه کښې ړومبی (څ) ته ګوری او په دویم (څ) د غشی په طرف قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو پخپله (څ) لیکی.
- ماشومان د صفحې لاندینۍ برخه کښې ښی اړخ ته د تصویرونو نومونه اخلی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د (څ) او (س) اوازونه یو بل پسې وباسی او نومونه ئې اخلی.
- د کومو تصویرونو نومونه چه د «څ» نه شروع کیږی منځ کښې د څ سره ئې یوځاے کوی او چې د «س» نه شروع کیږی منځ کښې د «س» سره ئې یوځاے کوی
- استاذ هجې (څا) او (نګه) په بورډ د یو بل نه لرې لرې لیکی، ماشومان د دغو هجو اوازونه یوځاے کوی او لفظ (څانګه) لولی. استاذ ئې مدد کوی.
- استاذ کتاب کښې د (څانګه) مثال ته اشاره کوی او وائی چې دا نورې هجې پخپله د (څا) سره یوځاے کړئ او لفظ ئې ورته په مخامخ کرښو ولیکئ، استاذ ئې مدد کوی.

**جائزه:** ماشومان جوړ کړے شوی لفظونه څادر، څاڅکی، څاڅی، څاڅکے کلاس ته لولی، استاذ ئې جائزه اخلی.



## عنوان: ځ

## سبق: 1 (88)

**معاونات:** د ځنګل تصویری کارډ
بورډ - سلیټونه




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د ماشومانو نه پوښتنه کوی چې کوم ځاے کښې ګڼړې ونې وی هغه ځاے ته خلق څهٔ نوم اخلی؟ ماشومان وائی: هغه ځاے ته خلق (ځنګل) وائی.
- استاذ د ځنګل تصویری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی.
- ماشومان د (ځنګل) د سر اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی.
- استاذ پخپله د (ځ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وباسی
- استاذ صفحه کښې غټ (ځ) ته اشاره کوی، وائی چې دا د دې اواز شکل دے، نوم ئې (ځیم) دے او ورلاندې ئې د سر، منځ او اخر شکلونه دی.
- استاذ بورډ ته مخ کوی، ړومبے(ځ)په هوا کښې او بیا په بورډ لیکی، ماشومان ئې هم ړومبے هوا کښې او بیا د بورډ نه په سلیټونو نقل کوی
- استاذ د ځ هجې په بورډ لیکی، ماشومان ئې د حروفو د اوازونو یوځاے کولو په ذریعه لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان ورکړے شوی لفظونه او جملې ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ ئې مدد کوی.

### جائزه

- ماشومان جملو کښې هغه لفظونه لولی چې(ځ)پکښې استعمال شوے دے
- ماشومان یو څو داسې لفظونه وائی چې سر کښې ئې (څ) او یو څو داسې چې په (ځ) شروع کیږی، استاذ ئې جائزه اخلی

سبق: 2 (89)

## اعاده

- استاذ په ماشومان د تېرې ورځې هجې، لفظونه او جملې لولی




## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ (ځ) په بورډ لیکی، ماشومان ئې آواز وباسی او نوم ئې اخلی
- ماشومان خانه کښې ړومبی (ځ) ته ګوری، په دویم (ځ) د غشی په طرف قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو (ځ) په خپله لیکی.
- استاذ ماشومانو ته وائې چې د لاندینۍ برخې ښی اړخ ته حرفونو ته وګورئ او چې چرته (ځ) په کښې پیدا کړئ، کرښه ترې چاپېره کړئ، استاذ پرې ګرځی او کار ئې ګوری.
- استاذ ماشومانوته وائی چې د ګڅ اړخ تصویرونو کښې څۀ وینئ هغه ووایئ
- استاذ په ماشومانو دتصویرونو مخامخ جملې لولی او معلوموی چې جملې د دغه تصویرونو پحقله دی
- استاذ وائی چې هره جمله د خپل متعلقه تصویر سره د. کرښې په ذریعه یوځاے کړئ!
- ماشومان دغه جملې یوځل بیا لولی او متعلقه تصویر ته ئې اشاره کوی


**جائزه :** ماشومان دغه جملو کښې هغه لفظونه لولی چې (ځ) په کښې راځی، استاذ ئې جائزه اخلی.



## عنوان: ق

سبق: 1 (90)

**معاونات:** قلم او د قلم تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه




## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ وائی چې د یوڅو داسې څیزونو نومونه واخلئ چې تاسو ئې بستو کښې ږدئ.
- د (قلم) د نوم اخستلو باندې استاذ د قلم تصویری کارډ ښئی او ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ د قلم نوم څو ځله اخلی او د سر په اواز ئې زور ورکوی.
- ماشومان د (ق) اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی.
- استاذ د کتاب صفحه کښې غټ (ق) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے نوم ئې (قاف) دے او ورلاندې ئې د سر، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او په مزه مزه (ق) ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ لیکی. ماشومان ئې هم ړومبے هوا کښې او بیا د بورډ نه په سلېټونو نقل کوی.
- استاذ د (ق) هجې یو بل پسې په بورډ لیکی. او ماشومان ئې د حرفونو د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه لولی. استاذ ئې مدد کوی.
- ماشومان د هجو د یوځاے کولو په ذریعه ورکړے شوی لفظونه او بیا جملې لولی، استاذ ئې مدد کوی.

### جائزه

- ماشومان په جملو کښې صرف هغه لفظونه یوځل بیا لولی چې (ق) ئې په سر کښې یا اخر کښې راځی.
- ماشومان هغه نومونه اخلی چې د (ق) نه شروع کېږی ، استاذ ئې جائزه اخلی.


سبق: 2 (91)

## اعاده

- استاذ په ماشومانو د تېر سبق هجې او الفاظ لولی (یو ماشوم یو لفظ)
- استاذ په ماشومانو داسې نومونه اخلی. چې د (ق) نه شروع کېږی

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ یو غټ (ق) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی.




- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبی (ق) ته ګوری په دویم (ق) د غشی په طرف قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو پخپله (ق) لیکی. استاذ ئې اصلاح کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې لاندینۍ حصه کښې تصویرونو ته وګورئ او نومونه ئې واخلئ (یو ماشوم یو تصویر)
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د هر تصویر لاندې لیکلے شوی نوم ته وګورئ او معلومه کړئ چې په کښې څۀ کمے دے.
- ماشومان نیمګړو لفظونو ته ګوری او وائی چې څنو لفظونو کښې د سرحرفونه او څنو کښې هجی نشته.
- ماشومان د سر حرف او هجو په لیکلو سره لفظونه مکملوی او بیا ئې کلاس ته لولی د هر لفظ د سر په اواز زور ورکوی (یو ماشوم یو لفظ)

**جائزه:** ماشومان مکمل شوی لفظونه کلاس ته لولی او چې دوی کوم حرفونه یا هجې ورسره لیکلی دی. زور پرې اچوی.



## عنوان: ف

سبق: 1 (92)

**معاونات:** د فوارې تصویری کارډ
بورډ - سلېټونه

## د سبق ښودلو مشغلې




- استاذ ماشومانو ته وائی چې تاسو خپلو بوټو یا ګلونو له اُبۀ څنګه یا په څۀ ورکوئ؟ ماشومان وائی: په فواره
- استاذ د (فوارې) تصویری کارډ ښئی او نوم ئې اخلی.
- استاذ لفظ (فواره) څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی.
- ماشومان د (فواره) د سر اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی.
- استاذ پخپله د (ف) اواز څو ځله وباسی، ماشومان ئې ورپسې هم وباسی
- استاذ د صفحې سر کښې (ف) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے، نوم ئې (فې) دے او ورلاندې ئې د سر، منځ او اخر شکلونه دی.
- استاذ بورډ ته مخ کوی. په مزه مزه (ف) ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ لیکی.
- ماشومان ئې هم څو ځله هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- استاذ د (ف) هجې یو بل پسې په بورډ لیکی، ماشومان ئې د حرفونو د اوازونو د یوځائے کولو په ذریعه لولی، استاذ مدد کوی.
- ماشومان ورکړے شوی لفظونه او جملې ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی

## جائزه

- ماشومان د داسې څیزونو نومونه اخلی چې (ف) ئې سر کښې راځی
- ماشومان ورکړے شوو جملو کښې هغه لفظونه لولی، چې د (ف) په اواز شروع کیږی

سبق: 2 (93)

## اعاده

- ماشومان د تېر سبق، هجې او الفاظ لولی ( يوماشوم يوه هجه )
- ماشومان د تېر سبق جملو کښې هغه الفاظ لولی چې د (ف) نه شروع کيږی

ف

ف - ـفـ - ـف


فا- فه - فی- ـفے - فی - فو -


فال - لِفافه - فالُوده - فولاد -

فِدا- فقير- فيل - فَرش -

فاروق او فِدا فالُوده خوری.

فقير په فَرش ناست دے.






ف ڡ

47

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې لاندينۍ حصه کښې تصويرونو ته وګورئ او نومونه ئې واخلئ
- ماشومان د تصويرونو منځ کښې د (ف) او (پ) اوازونه يو بل پسې وباسی او نومونه ئې هم اخلی
- استاذ د پکی او فواره مثالونو باندې ماشومان پوهوی
- استاذ وائی چې د دې نورو تصويرونو نومونه په غور سره واخلئ د کوم تصوير د نوم په سر کښې چې (ف) وی منځ کښې (ف) سره او د کوم سر کښې چې (پ) وی هغه تصوير منځ کښې (پ) سره يوځاے کړئ
- ماشومان د تصويرونو نومونه يو ځل بيا اخلی او منځ کښې ئې خپل حرف سره يوځاے کوی
- استاذ (ف) په بورډ ليکی ماشومان ئې بيا اواز وباسی
- ماشومان خانه کښې ړومبۍ (ف) ته ګوری په دوېمه (ف) د غشی په مدد قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو پخپله (ف) ليکی

**جائزه:** ماشومان د هغه څيزونو يا خلقو نومونه اخلی چې د (ف) نه شروع کيږی، استاذ ئې جائزه اخلی



## عنوان: ژ

سبق: 1 (94)

**معاونات:** د ژبې تصويری کارډ بورډ - سلېټونه

ژ

ژ - ـژ

ژا- ژه - ژی - ژے - ژو

ژاړی - روژه - ژوند - ژُبه-

ژوبل - ژرَنده - ژړا - ژُمے-

ماشُوم ژرَندې ته تلو- لاره کښې

پرېوتو - ژوبل شو- اوس ژاړی-



ژ ژ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ژړا | ښارو | ژمے | ژړا | ژوند | شادو |
| ژرَنده | خَلق | ژُبه | فَقير | ژرَنده | نمونځ |
| ژُبه | خَپلۍ | ژُبه | سُپې | ژَور | ځنګل |
| ژوبل | ټوپک | ژَړل | ډول | جينۍ | ژوبل |

48

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د ماشومانو نه پوښتنه کوی چې مونږ خبرې په څۀ کوو، ماشومان جواب ورکوی: په ژبه
- استاذ د ژبې تصويری کارډ ښئی ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ ژبه څو ځله وائی او د سر په اواز زور کوی
- استاذ ماشومانو نه د لفظ ژبې د سر د اواز پوښتنه کوی، ماشومان جواب ورکوی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ په خپله څو ځله د (ژ) اواز وباسی. ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د صفحې سر کښې غټې (ژ) ته اشاره کوی او وائی چې داد دغه اواز شکل دے نوم ئې(ژی)دے او ورلاندې د دې د سر او اخر شکلونه دی
- استاذ د (ژ) هجې په بورډ ليکی او ماشومان ئې د حرفونو د يوځاے کولو په ذريعه لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان لفظونه او هجې ړومبے په خاموشۍ او بيا کلاس ته لولی ، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ يوځل (ژ) ړومبے په بورډ او بيا هوا کښې ليکی. ماشومان ئې هم ړومبے په هوا کښې او بيا په سلېټونو ليکی

**جائزه:** ماشومان په ورکړے شوو جملو کښې هغه الفاظ لولی چې د (ژ) نه شروع کيږی ، استاذ ئې جائزه اخلی

سبق : 2 (95)

## اعاده

- استاذ په ماشومانو د تېر سبق هجې او لفظونه لولي. د سر اواز (ژ) باندې زور ورکوي

ژ

ژ - ـژ

ژا - ژه - ژی - ژے - ژو

ژاړی - روژه - ژوند - ژٔبه -

ژوبل - ژرَنده - ژړا - ژٔمے -

ماشُوم ژرَندې ته تلو - لاره کښې

پرېوتو - ژوبل شو - اوس ژاړی -



ژ ـژ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ژړا | ښارو | ژمے | (ژړا) | ژوند | شادو |
| ژرَنده | خَلق | ژٔبه | فَقير | ژرَنده | نمونځ |
| ژٔبه | څَپلی | ژٔبه | سُپې | ژَور | ځنګل |
| ژوبل | توپک | ژَړل | ډول | جينۍ | ژوبل |

48

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ يوه غټه (ژ) په بورډ ليکی، ماشومان ئې بيا اواز وباسی
- ماشومان څو ځله (ژ) په سلېټونو ليکی
- ماشومان په خانه کښې ړومبۍ (ژ) ته ګوری، په دوېمه د غشی په لار قلم ګرځوی اوپه ورکړے شووکرښو پخپله (ژ) ليکی، استاذ ئې اصلاح کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې لاندې خانه کښې ښی اړخ ته غټ ليکلے شوی لفظونه د پاس نه لاندې اړخ ته ولولئ!
- ماشومان د دې هر لفظ مخامخ د قطار خانو کښې لفظونه لولی او چې د دې په شان لفظ کوم ځاے وی کرښه ترې چاپېره کوی لکه څنګه چې مثال ورکړے شوے دے
- ماشومان هغه لفظونه يو ځل بيا لولی چې کرښې ئې ترې تاو کړې دی (يو ماشوم يو لفظ)
- دوه دوه ماشومان خپلو کښې لفظونه لولی يو ماشوم په يو لفظ ګوته ږدی بل ئې لولی ( وار په وار )

**جائزه :** ماشومان هجې او لفظونه يو ځل بيا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی



## عنوان : ط

سبق : 1 (96)

**معاونات :** د طوطی تصويری کارډ

بورډ - سلېټونه

ط

ط - ط - ط


طا - طه - طی - طے - طې - طو -

طاوس - طاقَت - بَطه - طوطی - خَط -


طُوفان - ظَرَف - طالِب - قَطار -

دَ طاهِر طوطی خَبرې کوی - بَطه

خَبرې نۀ کوی - طاوس الوتے شی -



ط ـط



طو__ خـ__

وس بَـ__

طوطی او طاوس دواړه

ښـۀ مارغان دی - خَلق

ئې کورونو کښې ساتی -

بَطه سُپينه وی او

اُبو کښې لامبو

وَهلے شی -

49


## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې داسې مارغان پېژنئ چې خبرې کوی؟ ماشومان ئې نومونه اخلی طوطی - ښارو
- استاذ ماشومانو ته د طوطی تصويری کارډ ښئی او ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ (طوطی) څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ ماشومانو نه د طوطی د سر د اواز پوښتنه کوی. ماشومان د لفظ طوطی د (ط) اواز وباسی
- استاذ پخپله ځانله د (ط) اواز څو ځله وباسی ، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ د صفحې سر کښې غټې (ط) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دې اواز شکل دے. نوم ئې (طې) دے او ورلاندې ئې د سر، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ ړومبے څو ځله هوا کښې او بيا په بورډ (ط) ليکی، ماشومان ئې هم هوا کښې او په سلېټونو ليکی
- استاذ د (ط) هجې په بورډ ليکی، ماشومان ئې د حروفو د اوازونو د يوځاے کولو په ذريعه لولی، استاذ ئې رهنمائی او مدد کوی
- ماشومان لفظونه او جملې ړومبے په خاموشۍ او بيا کلاس ته لولی، استاذ مدد کوی
- ماشومان په دغه جملو کښې صرف هغه الفاظ لولی. چې (ط) ئې سر کښې يا منځ کښې وی، استاذ ئې رهنمائی کوی

**جائزه :** استاذ په ماشومانو د (ط) هجې او لفظونه يوځل بيا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی

سبق : 2 (97)

## اعاده




- استاذ غټه (ط) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی بیا ئې په سلېټونو لیکی

## د سبق ښودلو مشغلې


- ماشومان د منځ خـــانه کښې ړومبۍ (ط) ته ګوری، په دوېمه (ط) د غشی په لار قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو پخپله (ط) لیکی، استاذ ئې اصلاح کوی
- استاذ د صفحې لاندینۍ حصه کښې د تصویرونو نومونه په شاګردانو اخلی (یو ماشوم یو تصویر)
- استاذ ماشومانو ته وائی چې دَ هر تصویر لاندې څهٔ لیکلے شوی دی، وئې لولئ
- استاذ تصویر ته ګوری او ترېنه لاندې هجه یا حرف لولی او معلوموی چې دا د دغه تصویر نوم دے خو نیمګړے دے
- ماشومان د دغه نیمګړی نوم سره یوځائے هجه یا حرف لیکی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان پوره کړے شوے نوم لولی او په لیکلے شوې هجه زور اچوی
- استاذ په ماشومانو د ګڅ اړخ جملې په خاموشۍ لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان کلاس ته جملې لولی
- استاذ د نمونې په طور پخپله دغه جملې کلاس ته لولی، ماشومان خپلو کتابونو کښې ورته ګوری

**جائزه :** ماشومان د صفحې سر کښې هجې او لفظونه یو ځل بیا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی



جائزه VII

سبق : 1 (98)





**معاونات:** په صفحه کښې د ورکړے شوو تصویرونو کارډونه

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د ورکړے شوو څیزونو تصویری کارډونه یو په یو ښئی او ماشومان ئې نومونه اخلی
- استاذ هم ماشوم پسې سم دغه نوم اخلی او د سر په اواز زور اچوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د تصویرونو منځ کښې د حرفونواوازونه وباسئ (یو ماشوم د یو حرف اواز)
- استاذ د فوارې په مثال ماشومان پوهوی او وائی چې دا نور هم دغه شان وکړئ
- ماشومان په خاموشۍ کار کوی، استاذ پرې ګرځی راګرځی او جائزه ئې اخلی
- ماشومان د تصویرونو نومونه یوځل بیا اخلی او منځ کښې د نوم د سر اواز ته اشاره کوی
- ماشومان منځ کښې د ورکړے شوو اوازونو د وېستلو مشق کوی (یو ماشوم په یو حرف ګوته ږدی او بل ماشوم ئې اواز وباسی)
- ماشومان د تصویرونو د نومونو اخر اواز هم وباسی

عنوان : ص

سبق : 1 (99)


ص

صـ - ـصـ - ـص-

صا- صه- صی -صے-صي- صو-

صابُون - صوفی - صوفه - صَف-

صَندُوق- صابِر- صَبَر- صَفا-

صِفَت - صَنوبَر-

صابره په صابُون جامې وينځی-

ص شئ

صوفی په نمونځ ولاړ دے-

صابِر په ....بُون لاس وينځی-

صَنوبَر په ....فه ناست دے-

دا دَ جامو....ندُوق دے-

51

معاونات : د صندوق تصويری کارډ

بورډ - سلېټونه


## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو نه تپوس کوی چې تاسو خپلې کپړې په څۀ کښې ږدئ
- ماشومان وائی : صندوق کښې
- استاذ د صندوق تصويری کارډ ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ ( صندوق ) څو ځله وائی او د سر په اواز ئې زور ورکوی
- استاذ د ماشومانو نه د صندوق د سر د اواز تپوس کوی ، ماشومان ئې اواز وباسی
- استاذ صفحه کښې غټ ( ص ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د دغه اواز شکل دے نوم ئې ( صاد ) دے او وړلاندې ئې د سر ، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ د ( ص ) هجې وار په وار په بورډ ليکی ، ماشومان ئې د اوازونو د يوځائے کولو په ذريعه لولی ، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان د هجو نه لاندې لفظونه او جمله ړومبے په خاموشۍ او بيا کلاس ته لولی ، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ بورډ ته مخ کوی او يو غټ ( ص ) ړومبے هوا کښې او بيا په بورډ ليکی ، ماشومان ئې هم ورپسې دغه شان ليکی

جائزه : ماشومان د ( ص ) هجې او جمله يوځل بيا لولی ، استاذ ئې جائزه اخلی



سبق : 2 (100)


ص

صـ - ـصـ - ـص-

صا- صه- صی -صے-صي- صو-

صابُون - صوفی - صوفه - صَف-

صَندُوق- صابِر- صَبَر- صَفا-

صِفَت - صَنوبَر-

صابره په صابُون جامې وينځی-

ص شئ

صوفی په نمونځ ولاړ دے-

صابِر په ....بُون لاس وينځی-

صَنوبَر په ....فه ناست دے-

دا دَ جامو....ندُوق دے-

51

## اعاده

- استاذ يو غټ ( ص ) په بورډ ليکی ، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- ماشومان د تېر سبق هجې او الفاظ کلاس ته لولی او هر ځل د سر په اواز زور ورکوی

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ په بورډ ليکلے شوی ( ص ) ته اشاره کوی ، ماشومان ورته گوری
- ماشومان خانه کښې ړومبی ( ص ) ته گوری ، په دوېم ( ص ) د غشی په طرف قلم گرځوی او نور پخپله په کرښو ليکی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې لاندينۍ برخه کښې تصويرونو ته وگورئ او ووايئ چې خلق بېل بېل تصوير کښې څۀ کوی
- ماشومان د تصويرونو مخامخ جملې لولی او معلوموی چې هره جمله کښې يو يو لفظ نيمگړے دے
- استاذ ماشومان په ړومبی مثال ( صوفی ) پوهوی
- ماشومان په خاموشۍ سره نورو جملو کښې لفظونه پخپله مکملوی
- ماشومان مکملې کړے شوې جملې کلاس ته لولی او هر ځل په هغه هجه يا حرف زور اچوی چې دوی پرې لفظ مکمل کړے دے
- ماشومان په سلېټونو د ( ص ) او ( صـ ) د ليکلو مشق کوی

جائزه : ماشومان هجې او الفاظ يو ځل بيا لولی ، د سر په اواز زور ورکوی ، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان : ض

سبق : 1 (101)



ض

ضـ - ـضـ - ـض

ضا - ضه - ضی - ضے - ضې - ضو -

ضامن - رُضا - روضه - قاضی -

ضُد - قَرض - ضِیاء - ضَعیف -

دَ ضِیاء پلار قاضی وو - هغه

اوس ډېر ضَعیف شوے دے -

ض ض

قَرضِ په وخت ورکوئ ! (ضی - ض)

زموږ د نبیؐ رو___ مَدینه کښې ده - (ضے - ضه)

قا___ په کرسی ناست دے - (ضی - ضے)

اَسلم دَ پلار په ر___ کار کوی - (ضه - ضا)

دَ ضِیاء نه ټول خلق را___ دی - (ضی - ضا)

52

**معاونات :** د ضعیف سړی تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ پوښتنه کوی چې هغه بوډا سړی ته خلق څۀ نوم اخلی چې امسا په لاس ټیټ ټیټ ګرځی ماشومان وائی : ( ضعیف )
- استاذ د ضعیف سړی تصویر ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ ضعیف څو ځله وائی او د سر په اواز ئې زور ورکوی
- ماشومان د ( ضعیف ) د سر اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ پخپله څو ځله د ( ض ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وباسی
- استاذ کتاب کښې غټ ( ض ) ته اشاره کوی، وائی چې دا د دې اواز شکل دے، نوم ئې ( ضاد ) دے او ورلاندې د دې د سر، منځ او اخر شکلونه دی
- اسناذ بورډ ته مخ کوی، ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ ( ض ) لیکی، ماشومان ئې هم هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- استاذ د صفحې سر کښې هجې یو بل پسې په بورډ لیکی، ماشومان ئې د حروفو د اوازونو د یوځائے کولو په ذریعه لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان لفظونه او جملې ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته وار په وار لولی، استاذ مدد کوی

**جائزه :** ماشومان هجې، لفظونه او جملې یو ځل بیا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی



سبق : 2 (102)



ض

ضـ - ـضـ - ـض

ضا - ضه - ضی - ضے - ضې - ضو -

ضامن - رُضا - روضه - قاضی -

ضُد - قَرض - ضِیاء - ضَعیف -

دَ ضِیاء پلار قاضی وو - هغه

اوس ډېر ضَعیف شوے دے -

ض ض

قَرضِ په وخت ورکوئ ! (ضی - ض)

زموږ د نبیؐ رو___ مَدینه کښې ده - (ضے - ضه)

قا___ په کرسی ناست دے - (ضی - ضے)

اَسلم دَ پلار په ر___ کار کوی - (ضه - ضا)

دَ ضِیاء نه ټول خلق را___ دی - (ضی - ضا)

52

### اعاده

- استاذ ( ض ) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- استاذ په ماشومانو د تېر سبق هجې او لفظونه لولی


### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ په بورډ لیکلے شوی ( ض ) ته اشاره کوی، ماشومان ئې په هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- ماشومان خانه کښې ړومبی ( ض ) ته ګوری په دوېم ( ض ) د غشی په طرف قلم ګرځوی
- ماشومان په ورکړے شوو کرښو پخپله ( ض ) لیکی .
- ماشومان د صفحې دَ لاندینۍ برخې کڅ اړخ ته برېکټونو کښې هجې لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان هجو ته مخامخ نیمګړې جملې لولی، استاذ ئې رهنمائی او مدد کوی
- استاذ ماشومان په ړومبی مثال قرض پوهوی
- ماشومان خالی ځائے کښې موزونه هجه د دغه مثال په رڼا کښې لیکی
- ماشومان کتابونه یو بل سره بدلوی او د یو بل د کار جائزه اخلی
- استاذ مکملې کړے شوې جملې په بورډ لیکی، ماشومان ورسره خپلې جملې صحی کوی

**جائزه :** ماشومان جملې لولی استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان: ع

سبق: 1 (103)




**معاونات:** عېنک او د عېنک تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د ماشومانو نه پوښتنه کوی چې د چا نظر کمزورے شی نو خلق څهٔ په سترګو کوی، ماشومان وائی: عېنک (چشمې) استعمالوی
- استاذ عېنک یا د عېنک تصویری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ عېنک څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- ماشومان د لفظ عېنک د سر اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ څو ځله د (ع) اواز پخپله وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائي
- استاذ صفحه کښې ښتې (ع) ته اشاره کوی او وائی چې دا د (ع) شکل دے او نوم ئې (عېن) دے ، ورلاندې د (ع) د سر ، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی، هوا کښې او په بورډ (ع) لیکی، ماشومان ئې هم دغه شان هوا کښې او په سلېټونو لیکی
- استاذ د (ع) مختلفې هجې په بورډ لیکی، ماشومان ئې اوازونه وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ سبق کښې ورکړے شوی لفظونه او جملې لولی


**جائزه:** استاذ د مختلفو څیزونو نومونه اخلی، ماشومان د هغه نومونو په اورېدو لاس اوچتوی چې سر کښې ئې د (ع) اواز واوری، استاذ ئې جائزه اخلی



سبق: 2 (104)

### اعاده

- استاذ په ماشومانو د هغو څیزونو نومونه اخلی چې د (ع) نه شروع کیږی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د تېر سبق هجې او جملې ولولی، استاذ ئې مدد کوی




### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ (ع) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- ماشومان خانه کښې ړومبی (ع) ته ګوری په دویم (ع) د غشی په مدد قلم ګرځوی او په ورکړے شوو کرښو (ع) پخپله لیکی، استاذ ئې اصلاح کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې لاندینۍ برخه کښې د تصویرونو نومونه واخلئ
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د تصویرونو منځ کښې د حرفونو (ا، ع، هـ) اوازونه وباسئ!
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال پوهوی
- ماشومان مثال ته ګوری او د هر تصویر د نوم د سر حرف /اواز منځ کښې متعلقه حرف یا اواز سره یوځاے کوی
- ماشومان د بولۍ کار جائزه اخلی، استاذ ئې رهنمائی کوی
- ماشومان د تصویرونو منځ کښې د حرفونو اوازونه وباسی او د متعلقه تصویر نوم ئې اخلی


**جائزه:** ماشومان د داسې څیزونو نومونه اخلی چې د (ع) نه شروع کیږی، استاذ ئې جائزه اخلی

- ماشومان جملو کښې صرف هغه لفظونه لولی چې د (ع) نه شروع کیږی

# عنوان : ح

سبق :1(105)

**معاونات :** د حلوائی تصویری کارډ
بورډ - سلېټونه




## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته پوښتنه کوی چې څوک بازار کښې حلوا او مټائی خرڅوی، هغهٔ ته خلق څهٔ نوم اخلی، ماشومان وائی: (حلوائی)
- استاذ د حلوائی تصویر ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ لفظ حلوائی څو ځله وائی او د سر په اواز ئې زور ورکوی
- ماشومان د (حلوائی) د سر اواز وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ پخپله څو ځله د (ح) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې هم وباسی
- استاذ د صفحې سر کښې غټې (ح) ته اشاره کوی، وائی چې دا د دې اواز شکل دے، نوم ئې (حې) دے او ورلاندې ئې د سر ، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی، یوه غټه (ح) ږومبے هوا کښې او بیا په بورډ لیکی
- ماشومان ئې هم ږومبے څو ځله هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی
- استاذ د (ح) هجې یو بل پسې په بورډ لیکی، ماشومان ئې د اوازونو د یوځائے کولو په ذریعه لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان لفظونه او جملې لولی، استاذ ئې مدد کوی

**جائزه :**


- ماشومان د هغه څیزونو نومونه اخلی چې (ح) ئې سر کښې راځی، استاذ ئې جائزه اخلی
- ماشومان په ورکړے شوې جمله کښې هغه لفظونه لولی چې (ح) ئې سر کښې راځی



سبق : 2 (106)

## اعاده

- استاذ یوه غټه (ح) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- ماشومان د تېر سبق هجې، لفظونه او جملې لولی





## د سبق ښودلو مشغلې

- ماشومان خانه کښې ږومبی (ح) ته گوری او په دوېمه (ح) د غشی په طرف قلم گرځوی
- ماشومان په ورکړے شوو کرښو نورې (ح) پخپله لیکی
- ماشومان د لاندې ښی اړخ د حروفو اوازونه یو بل پسې وباسی
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال(ح)پوهوی
- ماشومان د نورو(ح)گانو نه پخپله کرښه چاپېره کوی
- استاذ گڅ اړخ ته (حا) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی
- استاذ صفحه کښې (حا) ته مخامخ هجې یو بل پسې په بورډ لیکی، ماشومان ئې وار په وار اوازونه وباسی
- استاذ ماشومان په ږومبی مثال (حاضر) پوهوی
- ماشومان په هم دغه طریقه پاتې هجې (حا) سره یوځائے کوی او په کرښو ئې لفظونه لیکی
- ماشومان ملگرو سره کتابونه بدلوی او د یو بل د کار جائزه اخلی
- استاذ دغه لفظونه په بورډ لیکی، ماشومان ورسره خپل کارصحی کوی

**جائزه :** استاذ په بورډ لیکلے شوی لفظونه په ماشومانو بیا لولی، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان : ذ

سبق : 1 (107)




**معاونات :** د ذخيرې تصويری کارډ بورډ - سلېټونه

### د سبق ښودلو مشغلې


- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې هغه واړهٔ واړهٔ بوټی چې خلق ئې اخلی اوکری ئې چرته وی؟ ماشومان وائی : ذخيره کښې
- استاذ د ذخيرې تصوير ښئی او ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ د ذخيرې لفظ څو ځله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ د ماشومانو نه د ذخيرې د لفظ د سر د اواز پوښتنه کوی. استاذ ئې مدد کوی
- استاذ څو ځله د ( ذ ) اواز وباسی، ماشومان ئې ورپسې وائی
- استاذ صفحه کښې غټ ( ذ ) ته اشاره کوی او وائی چې دا د ( ذ ) شکل دے او نوم ئې (ذال) دے، ورلاندې د ( ذ ) د سر او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی، په هوا کښې او بيا په بورډ ( ذ ) ليکی، ماشومان ئې هم دغه شان اول په هوا کښې او بيا په سلېټونو ليکی
- استاذ د ( ذ ) مختلفې هجې په بورډ ليکی ماشومان ئې اوازونه وباسی، استاذ مدد کوی
- استاذ سبق کښې ورکړے شوی لفظونه او جملې لولی

**جائزه :** استاذ ماشومانو ته وائی چې جملو کښې استعمال شوی هغه الفاظ کلاس ته ولولئ چې د ( ذ ) نه شروع کېږی، استاذ ئې جائزه اخلی



سبق : 2 (108)

### اعاده




- استاذ هجې، الفاظ او جملې په ماشومانو لولی


### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې لاندې تصويرونو ته وګورئ او چې څهٔ پکښې وينئ د هغې تشريح وکړئ
- ماشومان تصويرونو ته مخامخ جملې لولی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې هرتصوير ته مخامخ دوه **دوه** جملې ورکړے شوی دی، تاسو موزونه جمله تصوير سره يوځاے کړئ !
- ماشومان خپلو کښې کتابونه بدلوی او د يو بل کار ګوری، استاذ ئې مدد او رهنمائی کوی
- ماشومان جمله لولی او متعلقه تصوير ته اشاره کوی ( يو ماشوم يوه جمله )
- ماشومان جملو کښې هغه لفظونه لولی چې په ( ذ ) شروع کېږی
- استاذ( ذ ) په بورډ ليکی، ماشومان ئې اواز وباسی
- ماشومان هم ( ذ ) څو ځله په سلېټونو ليکی
- ماشومان خانه کښې ړومبی ( ذ ) ته ګوری او په دوېم ( ذ ) د غشی په طرف قلم ګرځوی
- ماشومان په ورکړے شوو کرښو ( ذ ) پخپله ليکی

**جائزه :** ماشومان ذاکر، ذخيره، ذکر الفاظ په سلېټونو ليکی، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان : ظ

سبق : 1 (109)




**معاونات:** د (ظروف) تصویری کارډ - بورډ - سلېټونه


### د سبق ښودلو مشغلې

- تاسو چې کور کښې په کومو ځیزونو کښې خوراک څښاک کوئ، هغې ته خلق څهٔ نوم اخلی، ماشومان وائی: لوښی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې لوښو ته ظروف هم وائی
- استاذ د ظروف تصویری کارډ ښئی، ماشومان ئې نوم اخلی: ظروف
- ماشومان د ظروف د سر اواز څو ځله وباسی
- استاذ پخپله څو ځله د (ظ) اواز وباسی، ماشومان ئې هم ورپسې وائی
- استاذ یوه غټه (ظ) په بورډ لیکی او صفحه کښې ورته اشاره کوی، وائی چې دا د دې اواز شکل دے او نوم ئې (ظې) دے، ورلاندې د دې د سر، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ صفحه کښې هجې په بورډ لیکی، ماشومان ئې د اوازونو د یوځاے کولو په ذریعه لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان لفظونه او جملې یو بل پسې لولی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ په بورډ لیکلے شوې (ظ) ته اشاره کوی، په هوا کښې ئې هم لیکی، ماشومان ئې هم ړومبے هوا کښې او بیا په سلېټونو لیکی

**جائزه :** ماشومان ورکړے شوو جملو کښې هغه الفاظ لولی چې د (ظ) نه شروع کیږی، استاذ ئې جائزه اخلی



سبق : 2 (110)




### اعاده

- استاذ ظ په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی
- ماشومان تېر سبق کښې د هغه لفظونو نومونه اخلی چې (ظ) په کښې استعمال شوې وی


### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ په بورډ لیکلے شوې (ظ) ته اشاره کوی، ماشومان ورته ګوری
- ماشومان صفحه کښې ړومبۍ (ظ) ته ګوری او په دوېمه ظ د غشی په طرف قلم ګرځوی
- ماشومان په ورکړے شوو کرښو(ظ)په خپله لیکی
- استاذ په ماشومانو د صفحې لاندینۍ برخه کښې د تصویرونو نومونه اخلی (یو ماشوم یو تصویر)
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال (ض) پوهوی
- ماشومان مثال ته ګوری او د تصویر د لاندې په ورکړے شوو کرښو د هر تصویر د نوم د سر حرف لیکی
- استاذ د هر تصویر د سر حرف په بورډ لیکی، ماشومان ورسره خپل کار صحی کوی

**جائزه :** ماشومان د لیکلے شوو حروفو نومونه اخلی، استاذ ئې جائزه اخلی

## عنوان : ث

سبق : 1 (111)




**معاونات :** د ثمر تصویری کارډ بورډ - سلېټونه


### د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د ماشومانو نه د مختلفو مېوو په حقله تپوسونه کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې مېوو ته ثمر هم وائی
- استاذ د ثمر تصویری کارډ ښئی ، ماشومان ئې نوم اخلی
- استاذ ثمر څو خله وائی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ ماشومانو نه د لفظ (ثمر ) د سر د اواز پوښتنه کوی ، ماشومان ئې اواز وباسی او استاذ ئې مدد کوی
- استاذ صفحه باندې غټې (ث) ته اشاره کوی او وائی چې دا د (ث) شکل دے او نوم ئې (ثې) دے ، ورلاندې ئې د سر ، منځ او اخر شکلونه دی
- استاذ بورډ ته مخ کوی. ړومبے هوا کښې او بیا په بورډ (ث) لیکی، ماشومان ئې هم ورپسې دغه شان هوا کښې لیکی
- استاذ د (ث) هجې په بورډ لیکی، ماشومان ئې اوازونه وباسی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ سبق کښې ورکړے شوی لفظونه او جملې په ماشومانو ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته لولی، استاذ ئې مدد کوی

**جائزه :** استاذ د مختلفو څیزونو نومونه اخلی او ماشومان ئې کله چې په سر کښې د (ث) اواز اوری نو لاس اوچتوی ، استاذ جائزه اخلی



سبق :2 (112)




### اعاده

- استاذ (ث) په بورډ لیکی، ماشومان ئې اواز وباسی.او نوم ئې اخلی
- استاذ د تېر سبق هجې، الفاظ او جملې په ماشومانو لولی

### د سبق ښودلو مشغلې

- ماشومان لاندې خانه کښې ړومبے (ث) ته گوری او د غشی په طرف دوہمه (ث) باندې قلم گرځوی
- ماشومان ورکړے شوو کرښو باندې (ث) پخپله لیکی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې لاندې برخه کښې تصویرونو ته ښهٔ په غور وگورئ او د هر تصویر نوم واخلئ!
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال «څپلۍ» پوهوی
- ماشومان د مثال پشان د هر تصویر لاندې په کرښه د هغه تصویر نوم لیکی
- ماشومان یو بل سره کتابونه بدلوی او د یو بل د کار جائزه اخلی
- استاذ په بورډ د تصویرونو نومونه لیکی، ماشومان ورسره خپل کار صحی کوی
- استاذ په یوڅو ماشومانو په بورډ لیکلے شوی نومونه لولی، استاذ ئې مدد کوی

**جائزه :** ماشومان څپلۍ ، ثمر ، څټک پخپلو سلېټونو څو څو واره لیکی، استاذ ئې جائزه اخلی





سبق : 1 (113)

- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې پاسنۍ برخه کښې تصویرونو ته په غور وګورئ!
- استاذ په ماشومانو د بېل بېل تصویر نوم اخلی او د سر په اواز زور ورکوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د هر تصویر لاندې د تصویر نوم لیکلے شوے دے چې د سر حرف پکښې نشته ، تاسو پکښې د سر حرف ولیکئ!
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال (عینک) پوهوی
- ماشومان د ورکړے شوی مثال په رڼا کښې د نورو نیمګړو الفاظو سره د سر حرف لیکی استاذ پرې ګرځی راګرځی او جائزه ئې اخلی
- استاذ دا الفاظ په بورډ لیکی او په ماشومانو ئې لولی
- ماشومان خپل کار په بورډ لیکلے شوو الفاظو سره مقابله کوی
- ماشومان یوځل بیا لفظونه لولی او د سر په اواز ئې زور ورکوی
- ماشومان د لیکلے شوو حروفو پوره شکلونه په سلېټونو لیکی








سبق : 2 (114)

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې لاندینۍ برخه کښې تصویرونو ته په غور وګورئ!
- استاذ په ماشومانو د بېل بېل تصویر نوم اخلی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې تاسو هر تصویر لاندې د هغۀ نوم ولیکئ!
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال (بطه) پوهوی
- ماشومان د ورکړے شوی مثال په رڼا کښې نورو تصویرونو لاندې نومونه لیکی، استاذ ئې جائزه اخلی
- استاذ د تصویرونو نومونه په بورډ لیکی، ماشومان ورسره خپل کار مقابله کوی
- ماشومان په بورډ لیکلے شوی نومونه کلاس ته لولی (یو ماشوم یو لفظ)
- ماشومان د دغه نومونو د لیکلو مشق په سلېټونو کوی
- استاذ په ماشومانو د نورو داسې څیزونو نومونه اخلی چې د دغه تصویرونو د سر د اوازونو نه شروع کیږی لکه برش ، پکے ـ منګے . کارغۀ. چټ. غر

## عنوان: حروف جار ( لاندې - باندې - کښې - سره - دننه - بهر )

سبق: 1 (115)

### د سبق ښودلو مشغلې

| | | |
|---|---|---|
| لاندې | باندې | کښې |
| سَره | دننه | بَهَر |



ګِلاس مېز <u>باندې</u> پروت دے.



مرغۍ ونه ـــــ ناستې دی.



جارُو دَ کَټ ـــــ دد.



طوطی پَنجره کښې ـــــ دے.

بنارو د پَنجرې نه ـــــ ده.



بابا ـــــ اَمسا ده.

59

- استاذ ماشومانو ته وائی چې صفحه کښې تصویرونو ته په غور وګورئ، چې څۀ پکښې وینئ هغه ووایئ!
- ماشومان د صفحې د سر خانه کښې الفاظ لولی، استاذ ئې مدد کوی
- ماشومان دغه الفاظ په خپلو سلېټونو لیکی، استاذ ئې اصلاح کوی
- استاذ د اول تصویر پحقله پوښتنه کوی چې ګلاس چرته پروت دے؟
ماشومان وائی: مېز باندې
- استاذ ئې ماشومانو پسې وائی او په ( باندې ) زور ورکوی
- استاذ د بېل بېل تصویر پحقله هم دغه شان پوښتنې کوی، متعلقه حروف جار ( کښې ، لاندې ، دننه، بهر ، سره ) وائی او زور پرې اچوی
- ماشومان د هر تصویر مخامخ نیمګړې جملې په خاموشۍ لولی
- استاذ ماشومان په ورکړے شوی مثال ( باندې ) پوهوی
- ماشومان سر کښې الفاظو ته ګوری او د تصویر مطابق ئې د جملو خالی ځایونو کښې لیکی
- استاذ دغه جملې په بورډ لیکی، ماشومان ورسره خپلې خپلې جملې صحی کوی
- ماشومان دغه جملې کلاس ته لولی ( یو ماشوم یوه جمله )



## عنوان: هر کار په خپل وخت کوئ

سبق: 1 (116)

### د سبق ښودلو مشغلې

#### هر کار په خپل وخت کوئ!

اَکبر او مَریم سَحر وختی پاڅی. دواړه اَودَس کوی. اَکبر جوُمات کښې او



مَریم کور کښې نمونځ کوی

بیا قُران لولی. دَ ځاے څښلو نه پَس دواړه سکول ته ځی. غرمه واپس کور ته راځی. ډوډۍ



خوری او بیا ارام کوی.



ارام نه پَس دَ سکول کار کَوی. چې مازیګر شی لوبې کوی. ماښام ډوډۍ وخوری. دَ نیا نه خوَږې قِصې واوری نو بیا اُودۀ شی.

60

- استاذ ماشومانو نه پوښتنه کوی چې تاسو د سحر نه تر ماښامه څۀ څۀ کوئ، بېل بېل ماشوم جواب ورکوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د کتاب په صفحه کښې تصویرونو ته وګورئ او د بېل بېل ماشوم کار بیان کړئ!
- استاذ ماشومانو ته وائی چې د صفحې سر کښې عنوان ړومبے په خاموشۍ او بیا کلاس ته ولولئ، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ ماشومانو ته وائی چې صفحه کښې سبق په خاموشۍ سره ولولئ او چې کوم لفظونه نۀ شئ لوستلے پوښتنه وکړئ!
- استاذ مشکل لفظونه لکه نمونځ - څښلو - مازیګر - ماښام - وخوری - قصې په بورډ لیکی او په ماشومانو ئې د لوستلو کوشش کوی، استاذ ئې مدد کوی
- استاذ سبق د نمونې په ډول په مزه مزه لولی، ماشومان کتاب کښې ورته ګوری ماشومان به کوشش کوی چې قصه د استاذ پشان ولولی «یو ماشوم یوه جمله»
- ماشومان د اکبر او مریم قصه په خپلو لفظونو کښې وائی، استاذ ئې مدد کوی

**جائزه:** ماشومان په بورډ لیکلے شوی لفظونه لولی او په سلېټونو ئې لیکی، استاذ ئې جائزه اخلی

سبق : 2 (117)

## اعاده

- استاد په ماشومانو تېر سبق کښې د مختلفو وختونو نومونه اخلی (یو ماشوم، د یو وخت نوم اخلي)
- یو څو ماشومان د تېرې ورځې سبق لولی

- استاد په ماشومانو د ذکر شوو وختونو نه علاوه د نورو وختونو نومونه اخلی لکه ماسپښین، ماسخوتن.

خالی ځایونو کښې د خانې نه مناسب لفظونه ولیکئ

اَکبر او مَریم سَحر وختی پاڅی.

بیا دوی ...... وکړی.

د نمونځ نه پَس ...... لولی.

...... سکول نه واپس کور ته راځی.

بیا دوی د سکول ...... کوی.

چې ...... شی لوبې کوی.

د لوبو نه پَس د ...... ډوډۍ خوری.

| | | | |
|---|---|---|---|
| کار | نمونځ | سَحر | مازیګر |
| قُران | غَرمه | ماښام | |

61

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاد په ماشومانو د کتاب متعلقه صفحه راوباسی.
- استاد په ماشومانو ورکړے شوې نیمګړې جملې لولی.
- ماشومان د لاندې خانې لفظونه یو بل پسې لولی.
- استاد ماشومان په ورکړے شوی مثال «سحر» پوهوی.
- استاد په ماشومانو د تصویرونو په مدد د ورکړے شوو لفظونو نه مناسب لفظ خالی ځای کښې لیکی.
- ماشومان مکملې کړے شوې جملې کلاس ته لولی (یو ماشوم یوه جمله).
- ماشومان ذکر شوی وختونه ړومبے په ترتیب وائی او بیا ئې په سلېټونو د لیکلو مشق کوی.

**جائزه :** ماشومان د ورځې د ټولو وختونو نومونه په ترتیب اخلی، استاذ ئې جائزه اخلی.



# عنوان : د الفبې چارټ

سبق : 1 (118)

**معاونات :** د الفبې چارټ

## د الفبې نظم

| | |
|---|---|
| ا ب پ | چې خوب وکړمه دَ شپې |
| ت ټ ث | سَحر پلار وی راپسې |
| ج ځ چ | وائی واچوه جامې |
| څ ح خ | شابه ځه تر مدرسې |
| د ډ ذ | پیسې راکړی یم خوشحال |
| ر ړ ز | دی مَلګری زما درې |
| ژ ږ س | ګُل، اَختر او هم زرین |
| ش ښ ص | دوی همېش وی زما یاد |
| ض ط ظ | زموږ ژوند دے دَ مَزې |
| ع غ ف | هم دَ ورځې، هم دَ شپې |
| ق ک ګ | دَ یو بل نۀ یُو خلاف |
| ل م ن | ګُل وئېل راته پَرُون |
| و ه ی | راسَره لوبې کوې ؟ |

داورخان داؤد

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاد چارټ په بورډ زوړندوی، ماشومان ورته په غور ګوری
- ماشومان په چارټ کښې په ترتیب سره د حرفونو اوازونه وباسی او نومونه ئې اخلی ( یو ماشوم پنځهٔ یا شپږ حرفونه )
- استاذ پخپل چارټ کښې د ټولو حرفونو اوازونه وباسی او نومونه ئې اخلی

## جائزه

- ماشومان وار په وار د کلاس مخې ته راځی، په چارټ کښې د حرفونو اوازونه وباسی او نومونه ئې اخلی، استاذ ئې جائزه اخلی
- استاذ یو څو مشکل حرفونه لکه ج، د ، ر، س، ص، ع، هـ ، ے ، ی په بورډ لیکی
ماشومان ئې اوازونه وباسی. نومونه ئې اخلی او بیا ئې په سلیټونو لیکی
- استاذ بېل بېل ماشوم د کلاس مخې ته راغواړی، خپل نومونه پرې اخلی، د خپل نوم د سر اواز وباسی او په چارټ کښې ئې ښئی، استاذ ئې جائزه اخلی

سبق : 2 (119)

## اعاده


- استاذ یو څو حرفونه په بورډ لیکی، ماشومان ئې اوازونه وباسی او نومونه ئې اخلی

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د الفبې چارټ په بورډ زوړندوی ماشومان ورته په غور گوری
- استاذ چارټ کښې یو څو حرفونو ته اشاره کوی، ماشومان ئې اوازونه وباسی او نومونه ئې اخلی
- استاذ په یاد د یوځو حرفونو اوازونه وباسی ، ماشومان ئې په چارټ کښې ښئی او نومونه ئې اخلی (یو ماشوم یو حرف)
- دوه ماشومان د کلاس مخې ته راځی یو ماشوم په ترتیب سره یو څو حرفونو باندې گوته ږدی - بل ماشوم ئې اواز وباسی او نوم ئې اخلی (دا مشق به هم په دې طریقه جاری ساتلے شی)

**جائزه :** استاذ د مختلفو حرفونو اوازونه وباسی، ماشومان ئې نومونه اخلی او په سلېټونو ئې لیکی، استاذ ئې جائزه اخلی

د پښتو الفبې چارټ




62



## عنوان : د الفبې نظم

سبق : 1 (120)

## معاونات : د الفبې چارټ

**د الفبې نظم**

ا ب پ — چې خوب وکړمه دَ شپې
ت ټ ث — سَحر پلار وی راپسې
ج ځ چ — وائی واچوه جامې
څ ح خ — شابه ځه تر مدرسې
د ډ ذ — پیسې راکړی یم خوشحال
ر ړ ز — دی مَلگری زما درې
ژ ږ س — گُل ، اَختر او هم زرین
ش ښ ص — دوی همېش وی زما یاد
ض ط ظ — زموږ ژوند دے دَ مَزې
ع غ ف — هم دَ ورځې ، هم دَ شپې
ق ک گ — دَ یو بُل نهٔ یُو خلاف
ل م ن — گُل وئېل راته پَرُون
و ه ی — راسَره لوبې کوې ؟

داورخان داؤد

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ د الفبې چارټ په بورډ زوړندوی
- ماشومان په ترتیب سره د سر نه د ټولو حرفونو نومونه اخلی
- استاذ د کتاب صفحه کښې پخپله د نظم څلور ړومبنی شعرونه په مزه مزه وائی، ماشومان ئې ورپسې وائی، ان تر هغې چې په یاد ئې زده شی
- ماشومان دغه شعرونه کلاس ته وائی (یو ماشوم یو شعر)
- دوه ماشومان د کلاس مخې ته راځی یو کس د شعر د الفبې برخه او بل کس د شعر پاتې برخه وائی
- ماشومان زده کړے شوی شعرونه کلاس ته لولی (یو ماشوم څلورواړه شعرونه)

## جائزه

- ماشومان د څلورو واړو شعرونو ځانله حرفونه په ترتیب سره په سلېټونو لیکی
- یو ماشوم د حرف نوم اخلی لکه (ت) بل ماشوم ئې مخکښینے حرف (پ) او روستنے حرف (ټ) وائی، استاذ ئې جائزه اخلی

# عنوان : د الفبې نظم

**سبق :** 2 (121)

## اعاده

- ماشومان د تېر سبق دالفبې د نظم څلور واړه شعرونه په یاد وائی
- یو ماشوم د شعر د الفبې برخه او بل ئې د شعر برخه وائی

### د الفبې نظم

| | |
|---|---|
| ا ب پ | چې خوب وکړمه دَ شپې |
| ت ټ ث | سَحر پلار وی راپسې |
| ج ځ چ | وائی واچوه جامې |
| څ ح خ | شابه ځه تر مدرسې |
| د ډ ذ | پېسې راکړی یم خوشحال |
| ر ړ ز | دی مَلګری زما درې |
| ژ ږ س | ګُل ، اَختر او هم زرین |
| ش ښ ص | دوی همېش وی زما یاد |
| ض ط ظ | زمونږ ژوند دے دَ مَزې |
| ع غ ف | هم دَ ورځې ، هم دُ شپې |
| ق ک ګ | دَ یو بُل نهٔ یُو خلاف |
| ل م ن | ګُل ونِبل راته پَرُون |
| و هـ ی | راسَره لوبې کوې ؟ |

داورخان داؤد

## د سبق ښودلو مشغلې

- استاذ پخپله د کتاب صفحه کښې دالفبې د نظم ورپسې پنځهٔ شعرونه تر ض، ط، ظ پورې په مزه مزه وائی، ماشومان ئې ورپسې وائی، تر هغې چې یاد ئې شی
- پنځهٔ ماشومان د کلاس مخې ته ودریږی او هر یو په ترتیب سره یو یو شعر وائی (څو ځله)
- دوه دوه ماشومان د کلاس مخې ته راځی، یو کس شعر کښې د الفبې برخه او بل ئې ورپسې د شعر برخه وائی (پنځهٔ واړه شعرونه هم په دې طریقه)
- ماشومان په یاد پنځه واړه شعرونه وائې. نور ماشومان ئې مدد کوی
- یو ماشوم په دغه پنځو شعرونو کښې د یو حرف نوم اخلی، نور ماشومان ئې مخکښینے او روستنے حرف وائی استاذ پاتی شعرونه په هم دغه طریقه ښئی.

## جائزه

- ماشومان د نظم د ړومبنو نهو واړو شعرونو حرفونه په ترتیب سره وائی
- استاذ دې د نظم پاتې حرفونه هم په دې طریقه بله ورځ وښئی او د ټولو حرفونو مشق دې پرې وکړی